کابل

6MAR 53

KABUL

3 OCT 2
Copy-----1953

دحوت(۱٦)
۱۳۳۱ ش

۳۳۲



اعلیحضرت معظم همایونی

په داسی حال کښې چه په سروبی کښې چه دتېږو ماتولو

فابریکه ملاحظه کوی

SMITHSONIAN INSTITUTION
WASHINGTON 25, D.C.

چپ!!

دداغلی زړه له آهه شم څه شان چپ — د چمن په ګلو نه وی بلبلان چپ

خلاص شی بیا لکه تورځن دټول له منځه — که هرڅو په غا ښو ونیسم زبان چپ

له خامی جوش وخروش خېژی له دېګه — وی له خپلی پختګی پخته ګان چپ

په اوبو به دې دمراد ډیوه شی بله — که صدف غوندی په صبر کړی دهان چپ

چه دانه په خارو پټه شی خوشه شی — په ګو ګل دننه وساته ارمان چپ

د بلبلو ناری ښې نه دی په ګلو — چه په سرو لمبو کښی سوځی پتنګان چپ

لکه کاه او کهربا چه سره بولی — هسې پټه خوله بلل کاندی یاران چپ

لکه ژاړی پټه خوله بوره بدنامه — هسې کاندی مین زړه آه وفغان چپ

آبروئی دشکرخور میلمه به څه کا

چه حمید شکرباری کا په ګریبان چپ

« عبدالحمید مومند »

د (۲۲) کال (۲٤) گڼه

کابل

پنځلس ورځنۍ مصوره

ادبي ، اجتماعي ، تاریخي مجله

د پښتو ټولنې د عمومي مدیر

صدیق الله رښتین

ترکتنې وروسته خپریږي

چلوونکی: نور محمد «پوونده»

د حوت (۱٦)
۱۳۳۱ ش
د جمادی الثانی ۲۰
۱۳۷۲ ق
د مارچ (٦)
۱۹۵۳ ع

پته:
پښتو ټولنه
کابل
افغانستان

د تیلفون لمبر
۲۰۴۷

د اشتراک قیمت:

د کابل په ښار کښې	په دننه هېواد کښې	په نورو ملکو کښې
۳٦ افغانۍ	۴۰ افغانۍ	۴ دالره

ددې کښې لیکنې

لیک	لیکوالی	مخ
دمولوی بلخی او مسوم تلین	دښاغلی صباح الدین کشککی ترجمه	۱
تالیف او ترجمه	ښاغلی رشتین	٦
دادب موضوع	« زواك	۹
پښتون او معارف	« غ ، ح	۱۱
مینه	« سیال	۱٤
کوکچه	« م ، ننگرهاری	۱٦
پښتنولی	« خادم	۱۹
اساظم خان شیدا	مصحح ، مدون ښاغلی بینوا	۳۳

د مولوی بلخی اوه سوم تلین

د (بلخی مولوی جلال الدین رح) شهرت دومره روښانه او څرګند دی چه تذکر او معرفی ته ئی څه حاجت نشته خو ددې امر په لحاظ چه ځمونږ معارف پالونکی پاچا المتوکل علی الله اعلیحضرت (محمد ظاهرشاه) سلمه الله تعالی تل ددې د برم نه ډکی سیمی دښاغلو اسلافو او سترو مشاهیرو قدر او احترام کوی - او یو په بل پسی ځمونږ د ګرانو نومیالو د یادونی محافل په زیاد تجلیل سره جوړوی او معاصرو فضلاو ته ډیره زیاده موقع ورکوی چه هغوی هم په خپل وارد هغو مشرانو بشپړ احترام وکاندی ،

دادی د هغه ښاغلی مولانا د غه معنوی ځوی وقت غنیمت وګانه او څو کرښی ددې خپل نو میالی هیواد وال په فضائلو کښی خپروی ،

(بلخی جلال الدین مولینا رح)

داول او افضل الاصحاب بالتحقیق (حضرت ابو بکر الصدیق رض) له ځامنو څخه په دې ډول دی ،

جلال الدین بن بهاؤالدین بن حسین بن احمد بن محمود بن مودود بن ثابت بن مسیب بن مطهر بن حماد بن عبدالرحمن بن ابوبکر الصدیق رضی الله تعالی عنهم اجمعین .

د (بلخی مولینا جلال الدین رح) مورنی نسب د (خوارزمشاهیانو) د پاچاهانو کورنی ته رسیږی ځکه د (بلخی مولینا رح) او په انا د (اعلیحضرت قطب الدین محمد) مبارکه صبیه وه .

بلخی مولینا جلال الدین (رح)

د (بلخی مولینا جلال الدین رح) د نومیالی پلار فیوضات دومره عام او بشپړ وه چه ټول خلق ځنی مستفیض کیدل په تېره بیاد دوی هیواد وال چه په هغه وقت کښی د (خراسان) او خراسانیانو په نوم مشهور و .

هو ! د (بلخی مولوی جلال الدین رح) د بزرګوار پلار مولینا (بهاؤالدین رح) دافاضاتو د ګرټوله نړۍ او نړۍ وال وو - خو په تېره بیاد ده فیوضات زیاد تره پر (خراسان) مبذول ؤ او دده دافاضاتو اخص الخاص

مسند ځمونږ (بلخ ام البلاد) غوره او نوميالی ښارو چه هره ورځ اوشپه زيادو طالبانو او اولوا الالبابو داستفاضی په مقصد د سلطان العلماء برهان الاتقياء (بلخی مولينا بهاؤ الدين رح) چار چا پيرته د تدريس او تلميذ حلقه تړله او دهغه ستايلی شوی ذات څخه به مستفاض کيدل .

هر کله چه د (مولينا بلخی جلال الدين رح) پلار د سفسطی حتی فلسفی سره بله نظريه در لوده ، د حکماو او معاصرو متکلمينو سره کله طرف هم واقع کيده .

د همدی افکارو او نظرياتو د اختلاف په اثر ؤ چه ځمونږ د بل پوه هيواد وال يعنی امام الهمام ذی الاحترام (فخر الدين) بن محمد بن عمر الرازی (رح) سره علما موافق نه وو - او د دوی د افکارو په تعديل کښی ئی ډير زياد کوښښ کاوه .

اعليحضرت صدر الملة والدين (محمد خوارزمشاه) هم د (افغانستان) د دی دوو ځليدونکيو ستورو په منځ کښی د نظر توافق پيدا نشو کړی . په داسی حال کښی چه د (بلخی مولينا جلال الدين رح) د نوميالی پلار سويه او سجيه ډيره ټينګه او داور نه ډکه وه ، او د دوی د صبر او تحمل لوښی د دوی د خپل معاصر هيواد وال د درايت نه ډک (رازی امام فخر الدين رح) د وينا په مقابل کښی د څنډونه واو وښت ، بالاخره د (افغانستان) د پاچا تمايل د (رازی حزب) خوا ته د ښتنی پاکی خاوری نه د (بلخی مولينا رح) د وتلو او تګ سبب وګرځيد - او د خپلو ځامنو او ارادتمندانو سره (بيت الحرام) ته ولاړ - په لياره کښی ئی د (فريد الدين عطار رح) نوميالی شيخ سره وکتل - او دهغه د کتنی او وينا نه ډير خوشحاله شو . په دی وقت کښی د (بلخی مولينا رح) ارجمند ځوی پنځلس کلن ؤ . (شيخ عطار رح) د (مولينا جلال الدين رح) له ليدلو نه زياد خوشحاله شو - او پلار ته ئی زيری ورکړ چه د دی ګران ځوی د و چولی نه د الهی انوار څرګندېږی او زياد وقت به تير نشی چه د دی دستر ګو توری بی پايا نه فيوضات به محمديه (ص) امت ته واصل شی - او ضمنا ئی خپل د (اسرار نامی) مؤثر اثر هم جلال الدين (رح) ته وبښه .

بلخی مولينا (رح) په (بغداد) کښی هم د ګردو علماؤ ، فضلاؤ او مشاهيرو په تيره بيا د (شيخ شهاب الدين محمد بن محمد سهروردی) انار الله برهانه د عزت او احترام مورد وګرځيده .

د (بلخی مولينا رح) د موکب هر کلی په (شاماتو) او (حجاز) کښی هم د ټولو مشرانو او روحانيونو له خوا په زياد احترام او اکرام سره وشو .

(دحج) د مناسکو د اداء کولو نه وروسته بيرته (شام) ته راغی مګر دهغه ځای د مشاهيرو د اقامت دعوت ئی ونه مانه او (آذربائيجان) ته راغی او د (فخر الدين بهرام شاه) د آرزو او هيلی سره سم تر څلورو کلو پوری هلته په افاضاتو لګياؤ - پدغه مدت کښی د شهزاده (علاؤ الدين) او د دغی سيمی د نورو مشاهيرو له خوا ئی زياد احترامات وليدل - او د دی ښاغلی شخصيت د فيوضاتو اغيزه او تاثير د دوی پر اذواقو او مفارقو زياد ؤ . وروسته (لارنده) ته لاړ په همدی وقت کښی (مولينا جلال الدين بلخی رح) د ده ګران ځوی په اتلس کلنی عمر د (لارنده) په ښار کښی د خپل پلار په لمسون ئی د (خواجه لالای سمرقندی رح) د پاک لمنی لور (ګوهرخاتون) سره ازدواج وکړ .

بيا علامه (بهاؤ الدين بلخی رح) د (سلجوقی - علاو الدين کيقباد) د واسم پاچا په غوښتنه په (۶۲۵ ه ق) د (قونيه) په ښار کښی په استفاضه لګيا او بوخت شو او د دی بلخی سپين زيری د صوری او معنوی افاداتو څخه دهغه ځای د خواؤشا خلق مستفيد شول .

بالاخره دغه علمي او روحاني سړي په (۶۲۸) کال د ربع الاخر په (۱۸) د جمعې په ورځ د ځاښت په مهال کښې وفات شو [انا لله و انا اليه راجعون .] او دهغې سيمې ګرد او سيد ونکي ئې ټول سخت متاثر او غمجن وګرځول (علاو الدين) د وقت پاچا په خپله (دبلخي مولينا رح) دنوميالي پلار دفاتحي اخيستلو مراسم تريوې هفتې پورې دپادشاهي په جامع مسجد کښې سرته ورسول .

(مولوي جلال الدين بلخي رح) دخپل نوميالي پلار دوفات نه وروسته دارشاداوافاضې پرسجاده کيناست اودپلار نه ځښت زياد اوښه ئې د صوري اومعنوي افاداتو لړ دطالبانو او اولوا الالبابو پرمخ پرانست . څو مدت وروسته رسماً (مفتي الاعظم) شو - اوڅو لنډ مسافرتونه ئې د (قونيې) په شاؤخوا کښې وکړه اوضمناً ئې مولينا (سيد برهان الدين رح) تبريزي محقق سره په (قونيه) کښې وکتل - او دهغوی له خوانه دپلار دروحاني اوتدريسي مسلك په متابعت توصيه شو.

دمولينا دافاداتو او مصاحباتو لړ د (سيد برهان الدين) نور الله مرقده سره تر ډېر مدت پورې جاري ؤ - او دهغه کامل عارف دليارښودنې سره سم ئې دسلوك ليار موفقانه وهله .

ځمونږ بلخي مولينا په همدې وقت کښې د څوتنو مريدانو سره (شام) ته ولاړ - اود (کمال الدين) ابوالقاسم عمر بن احمد (رح) چه په (ابن العلوم) سره معروف ؤ له فيوضاتو څخه مستفيض شو .

درې کاله په (حلب) کښې په افاداتو لګياؤ، بيا (دمشق) ته راغی، اوهلته هم دفضلاؤ اوعلماؤ مرجع وګرځيد ضمناً دعارف قمين (شيخ محي الدين) العربي رحمه الله الباري اودهغې سيمې دنورو بزرګانو دمصاحبې نه مستفاض وګرځيد .

ځمونږ دغه (بلخي مولينا (ح) له دې اوږده مسافرت نه وروسته بيا (قونيې) ته راوګرځيد او د سيد (برهان الدين) رحمه رب العالمين په امراوارشاد په عبادت او رياضت او خلافت مشغول شو .

سيد برهان الدين (رح) په (۶۳۸ ه ق) کښې وفات شو - او بلخي مولينا جلال الدين (رح) دشريعت اوطريقت پرمسند کښيناست د (بلخي مولينای رح) شاؤ خواته دمريدانو اومخلصانو هجوم متکاثر بلکه متضاعف شو .

د (مولينا بلخي جلال الدين رح) په همدې تدريسي او روحاني بوخت توب او ټينګ مشغوليت په علمي اوادبي افاداتو کښې ددې نوميالي مېړه په ژوندانه کښې ډېرلوی اوستر طوفان څرګند شو .

په ظاهر کښې دهغه دهيجان سبب دهغه سپين ږيري مصاحبه وګرځيده چه ويښتان ئې ببر او کند ئې اغوستي ؤ اومجهول الحال بريښيده پدې ډول چه د (۶۴۲) کال د جمادي الثانيه په (۲۶) ګهيځ لمر د (مولينا بلخي جلال الدين رح) په مدرسې داسې رڼاوا چوله چه هغه ژور اوآرام سيند ئې متلاطم اوطوفاني کړ. او دهغه داورنه ډك نفس نه د (مولوي بلخي رح) دبختور وجود په تارو پود کښې لويه لمبه څرګنده شوه .

ددې مفصل مجمل ئې داسې ليکلي دي چه کامل پير او واصل عارف (شمس تبريزي رح) په غير متعارف صورت سره د (بلخي مولوي رح) دتدريس په حلقه کښې دده دزيادو طالبانو او ارادتمندانو په حضور کښې بې پروا کيناست - اوپه منکر ډول ئې ددوی تدريسي کتابو يلوته اشاره اوپوښته وکړه :

- داڅه شي دي؟ (مولوي رح) وفرمايل :

- ته نه پوهېږي!

(شمس رح) داورنه ډکې کتنې سره دهغو تدريسي لوازمو خواته وکتل، نا څاپه دهغو کتابو

څخه لوګی سره داور دلمبو جګ شو، (مولوی رح) په الوتلی رنګ او خوابدی سره د (شمس رح) نه پوښتنه وکړه چه :

- داڅه شی دی؟ (شمس رح) هم وفرمایل :

- ته هم نه پوهېږی !

(شمس رح) له دې ځواب سره سمدستی مستانه دمدرسې نه جګ شو او د نظر نه غائب شو هر څومره ئی چه زیاد ولټاوه بیخی ئی نښه هم ونه مونده .

(مولوی رح) ددې اوضاع په لیدو سره بیخی دځانه ولاړ - او د (شمسی) افکارو په لومه کښې ونښت - ددغه صوری بېلتون نه ډېر زیاد کلونه تیر شول - بالاخر د (شمس رح) د کښښ او د (مولوی) د کوښښ په اثر بیا هم سره ملاقی شول او لنږ شانته تسکین او تطمین ځمونږ بلخی مولوی جلال الدین انار الله برهانه په نصیب او برخه شو .

پدې ځای کښې (مولوی رح) دشاګردانو او ارادتمندانو د زیاد تکرار او اصرار په اثر دمراجعینو دافاضاتو او ارشاداتو دپاره (قونوی) زرکوب (صلاح الدین رح) ئی په خپل خلافت سرلوړی کړ، او دخپل دې انتخاب سره ئی دومره مینه او علاقه درلوده چه حتی د (صلاح الدین رح) (فاطمه خاتون) نومی لور ئې دخپل ځلمی ځوی (سلطان ولد) دپاره نکاح کړه . مګر (صلاح الدین رح) په (٦٥٢) کال کښې وفات شو، او بیا د ارادتمندانو دمکرر تذکار او اصرار په اثر (مولینا حسام الدین رح) چه په (ابن اخی) تورکی سره مشهور ؤ ځمونږ د (بلخی مولوی رح) په خلافت سرلوړی او مقرر شو. او دې انتصاب تر یوې اندازې پورې د (مولینا رح) دمدرسې دارادتمندانو تنده ماته کړه .

(مولینا حسام الدین چلپی رح) له یوې خوانه دشاګردانو په افاداتو او له بل پلوه ئې د (مولوی بلخی رح) په استفادی سره ډېره سعیه کوله (مولوی بلخی رح) هم پرخپل دې معنوی ځلمی خلف (مولینا حسام الدین چلپی رح) زیاد لطف او مهربانی کوله - د (مولوی بلخی رح) د مهرباتی د آثارو څخه چه په دې ګرامی فاضل (مولینا حسام الدین چلپی رح) کړې یو هم دادی چه د (مثنوی) ځښت مؤقر او محترم اثر ئې میدان ته را وېستلی دی .

د (مثنوی) اساسی محرک په حقیقت کښې ځمونږ د شیخ فریدالدین (عطار رح) د (منطق الطیر) مثنوی او ځمونږ دغزنوی (حکیم سنائی رح) ابو المجد (حدیقه) یا (الهی نامه) ده .

ځمونږ (بلخی مولوی رح) خپل مثنوی ددې دوو ګرانو آثارو په سبک په ویلو پیل وکړ. او (مولینا حسام الدین چلپی رح) د هغه په لیکلو کښې کوښښ وکړ .

(مولینا بلخی جلال الدین رح) نور الله مرقده د اته شپیته کالو په عمر د (٦٧٢ ه ق) کال دجمادی الثانیه په پنځم د یکشنبی په ورځ (په قونیه) کښې وفات شو !!! او په عالم اسلام کښې ئی ستر غم او ویر جوړ کړ . !!! انا لله و انا الیه راجعون

د (بلخی مولوی رح) دجنازې په وړلو کښې مسلمان او غیر مسلمان، لویانو او کچنیانو ګردو په ژړا او انګلو لاسره ګډون وکړ . ! ! ! .

د (بلخی مولوی رح) دجنازې لمونځ ابو المعانی صدر الدین (محمد بن اسحق رح) په امامت سره اداء شو چه دلویو متصوفینو او دحضرت (شیخ محی الدین عربی رح) دځلمیو شاګردانو څخه و.

د جنازې د لمانځه د اداء کولو نه وروسته د (ابوالمعالی رح) نه یو روح ویلونکی غږ جګشو او بې سده پر ځمکې پریووت . ! ! !

د (بلخی مولوی جلال الدین رح) مبارك جسد (مړی) دده د بزرگوارپلار (بلخی مولوی بهاؤالدین رح) د قبر تر څنگه د «ا ر م» پـه باغچـه کښی خښ شو ـ د (قونیئی) یو ه نجیب سړی د (بلخی مولوی جلال الدین رح) دفیض نه ډك زیارت باندی کلکه ښاه جوړه اوشنه کښېخه ئی پری و درواه چه ترهغی لاندی لحمونخړ د (بلخی مولوی جلال الدین رح) سره پنځوس تنه د دوی صوری او معنوی اولاد او احفاد اومنسوبین خښ دی .

د (مولینا بلخی جلال الدین رح) آثار چه په رومی مولوی سره هم شهرت اری دغه دی :

لمړی :ـ «مثنوی شریفی» دی چه دهغه په ستاینه کښی دده دهیوا دو الو یوتن عارف داسی وایی :

مثنوی مولوی معنوی — هست قرآن در زبان پهلوی
من چگویم وصف آن عالی جناب — نیست پیغمبر ولی دارد کتاب

دغه مستطاب کتاب دملیونو مجلدو په شمیر پهسوو کرتو دعالم پهډیرو لحایو کښی چاپ شوی او پرهغه باندی دعلماؤ او فضلاؤ له خوا ډیری شرحی لیکلی شوی دی او د ډیری زیادی برخی ئی دنفیسه منتخباتو په ډول په ډیر وز یاد مجلد اتو کښی لحانله په کافی شمیر د طبعی په گانه ښایستو کی شوی دی .

دوهم :ـ د (مولینا بلخی جلال الدین رح) دیوان دی چه پنځوس زره بیتو نه اری او هغه ئی د «تبریزی شمس» په نامه ویلی دی دغه دیوان هم په زیاد شمیر په ډیـرو زیاد و شرقی چاپخانو اومطابعو کښی چاپ شوی دی .

دریم :ـ د (مولوی جلال الدین بلخی رح) «رباعیات» دی چه تر څلورسو زرو زیاد رباعی اری دغه مجموعه هم په ښه صورت سره طبع شوی اودشا یقینو داستفا دی و ړده .

څلورم :ـ د (مولوی جلال الدین بلخی رح) د «فیه مافیه» منثور مؤفر اثردی چه دده د تقریر ونو اوخطابو څخه مملو اوداخلاقی ډیرو لطیفو نکاتو اودقرآنی آیتونو د تفا سیرو اودنبوی احادیثو پرتشریح مشتمله اودمشاهیرو د کلماتو اودتصوفی اشاراتو څخه ډک دی .

پنځم :ـ د (بلخی مولوی جلال الدین رح) د «مجالس سبعه» معتبر اثردی چه دده پرهغو مواعظو ساوی دی چه دجمعو اواخترونو په مبارکو ورځو کښی ئی دمریدانو په سرکړی دی اوددوی دارا د تمندانو له خوا لیکلی شوی او دطبعی په گانه ښایستو کی اوداستفا دی وړدی .

(پای)

تالیف او ترجمه

هره ژبه چه څه نه څه ذخیره پیدا کوی اودیوې علمی اوادبی پانګی خاونده کیږی نو ه امقصد له دوولارو څخه سرته رسیږی . یوه دتالیف لارده اوبله د ترجمې ـ تالیف یو مهم شی دی ، مګر ترجمه هم ورنه کمه نه ده دیوې ژبی دعلمی ذ خیری زیاتواو دیاره هم ترجمی ته ضرورت دی اوهم تالیف ته . نوله دې کبله ځینی خلك به تالیف کوی اوځینی به پـه ترجمه بوخت وی .څوك چه دیلتنې اوتتبع اواستعداد لری او دیومستقل فـکر اواجتها دخاوند وی : دهغه دپاره تالیف اوتصنیف پکاردی او څوك چه دغه قوه او استعداد نه لری نو هغه باید خپل کوښښ په ترجمه کښی په کـار واچوی . تالیف اوترجمه دواړه دژبی دپاره مهم خدمتونه دی ، نو ځکه دواړونه یو شان توجه لازمه ده . ترجمهٔ دعلمونودنقلولو یوه غوره وسیله ده . دیونان فلسفه ، دارسطو اوافلاطون فلسفی علوم ټول دترجمی په واسطه عربی ته رانقل شوی دی . او دعربی داموجوده علمی ذخیره نوله دترجمی نتیجه ده اوداکـار دابونصر فارابی اونورو پوهانو په لاس سرته رسیدلی دی . تالیف پهخپله تحقیق اوڅېړنې ته ضرورت لری مګر ترجمه نوی څېړنه اوپلټنه نـه غـواړی بل دوخت پـه لحاظ هم ترجمه زرکیږی اودتالیف دپاره دېر وخت پکاردی . پهدنیا کښی هرقوم اوملت له یوبل نه دغسی علمی استفادې کړی دی اوله نورو ژبو څخه ئی خپلی ژبی ته علوم رانقل کړی دی . افـکار اوعلوم د یوشخص مال نه دی ، بلکه دادټولی دنیا اوټولو انسانانو شریك مال دی ، هرانسانی دماغ دعلم و طن اوملك دی اوټول . خلك ترې یوشان دفایدې اخیستلو حق لری . په دنیا کښی چه کوم یولوی عالم ، یالوی فیلسوف یونوی کشف کوی اونوی نظریه میدان ته راباسی نو دهغه مقصد دبنی نوع بشر دپاره خدمت کول وی اوبس . پهدې لحاظ ټول علوم دټولوانسانانو پهمنځ کښی شریك دی اوهرڅوك کولای شی چهله نورو ژبو څخه خپلی ژبی ته علوم رانقل کړی ؛ په موجوده وخت کښی غربی دنیا دعلم اوساینس پهډګر کښی دېر زیات پرمخ تـګ کړی دی لهدې کبله دمشرق خلك بیلهدې نهچهغربیعلوم پهخپلو ژبو کښی ترجمه کړی بله لار نهلری . داکـار دمشرق دېرو قومونو لـکه عربو ، هنداونورو کړی دی.

نو پښتنو له هم پکار دی چه دې خواته مخ و کړځوی او دعلمی ترجمو په ذریعه خپله ژبه دعلم او ادب له ذخیرو څخه ډکه کړی. له تېرو خبرو څخه دیوې ژبی دپاره د تالیف او ترجمی ضرورت ثابت شو مگر اوس دا خبره ښکاره کول پکار دی چه ترجمه باید څنگه کسان و کړی او تالیف د کومو خلکو کار دی زما په خیال دیو تالیف کوونکي دپاره ددې وروسته خبرو خیال ساتل ضرور دی. ښایی چه تالیف کولو ته هغه څوك زړه ښه کړی چه دمستقل فکر خاوند وی او دتحقیق او پلټنی قوه ولری، دښه او بد، مهم غیر مهم، وړ ناوړ، منطقی او غیر منطقی شیانو په تمیز او بیلولو کښی دښه مهارت څښتن وی، د محیط او وخت زمان له غوښتنی سره سم خپل فکر په کار واچولی شی، او داسی یو اثر میدان ته راوباسی چه سمدستی دخلکو په درد وخوری. باید یو تالیف کوونکی د محیط او خلکو له روحیاتو سره اشنا وی او ښایی چه دخلکو دغوښتنی او احتیاج موافق تالیف وکړی ترڅو چه زرتر زره شهرت او عمومیت ومومی. په موجوده وخت کښی مشکل فلسفی کتابونه جوړول او باله قدیم منطق او حکمت څخه بحث کول زما په خیال یو بی فایدې کار دی. قدیمی حکمت دموجوده وخت دعملی ساینس په مقابل کښی محض دیو خوب او خیال مثال لری، دغه شان دپخوانی منطقی زړې قضیې هم اوس چاته څه گټه نه رسوی. ددې دپاره چه خلك له مطالعی سره اشناشی او په وگړو کښی دڅه شی د لوستلو شوق او ذوق پیدا کړی شی نو لازمه ده چه په دې وخت کښی ډرامې، فسانی او خوازه اجتماعی ناولونه زیات ولیکل شی.

په دې وسیله سره دژبی ادبی لمن هم لوئیږی او ټول لغات، نوی عبارات او دمطلب دا دا کولو جلا جلا ډولونه منځ ته راځی او ژبه د گرانو علومو دځای کولو دپاره تیاریږی.

ترجمه: د ترجمه کوونکی دپاره ددې وروسته خبرو مراعات لازم دی دهرې موضوع او هر فن ترجمه کوونکی له پکار دی چه په هغه موضوع او فن کښی دمعلوماتو خاوند او په اصل مطلب باندی پوره پوه وی، څوك چه دبل افکار په خپلو الفاظو کښې ځای کوی نو دا ضروری خبره ده چه هغه افکار دې دمخه دده په دماغ کښې پراته وی

دالفاظو مثال دقالب دی اودافکارو مثال دزرودی ' نویوزر گرهلهزر په بل قالب کښې اچولی شی چههغه ښهویلې کړی اوپه بل قالب کښې ئی داچولو دپاره تیار کړی .

پهدې ډول افکار اومعانی هم هغهوخت دالفاظو پهقالب کښې اچول کیدی شی چههغه دسړی پهدماغ کښې پوره ځای ونیسي اوښه تحلیل اوتجزیه شی . لهدې کبله دترجمی سره علم هم لازم دی . اوبی علمه ترجمه کول ځان پهعذابول دی .

بل پهترجمه کښې ضروری خبره داده چهبایدلفظ پهلفظ نهوی ' نکی پهتکی ترجمه کول یوبی فایدی کاردی چههیڅوك ترې خوند شي اخیستلای . پهترجمه کښې اصلاً دمعنی لحاظ پکاردی بعنی ښایی چهمطلب اومعنی دبل ژبی پهچپل قالب کښې واچولی شی دهری ژبی قالب . دجملو طرز . د بیان ډول جلا اوله نوروژبو څخه مخالف وی نو که کټ مټ دیوې ژبی دجملې ډول پهبلهژبه کښې راشی نو دهغی ژبی خوند او مزه نهپاتی کیږی اویو ناآشناشی ترې جوړیږی باید پهترجمه کښې داخیال وساتل شی چه دژبی خوند ' محاوره ' اصلی رنګ اواسلوب خراب او ګډوډ نشی .

ترجمه څه رنګ چهعلم تهضرورت لری ' دارنګ پکاردی چهمترجم پههغه ژبه کښې ادیب اودښه قلم څښتن وی ' دلغاتو ذخیره دې ورسره وی ' پهاملا اوانشا کښې دې مهارت ولری ' دهرډول محاورو نه دې خبروی اوسر بېره پردې دیوښه ادبی ذوق خاوند دې هم وی . ددې خبرو مراعات ډېر ضروردی ولی چه ژبه بوالحی پهترجمو زباتو لونهلوړیږی . بلکه دژبی اصلی اوړتیا پهدې ده چه دهغی خصوصیات ' طبعی ښېګڼی ' اصل شکل اورنګ وساتلی شی . ژبه پهخپل اصلی رنګ اوجامه کښې ترقی کوی مګر پهبل رنګ اودبلی ژبی پهښه کښې لهمنځه ځی اومحو کیږی . زمونږ دموجوده وخت اکثری پښتو ترجمی چهله فارسی نه کیږی دغهقسم دی چهدپښتو ملاماتوی ' دې خبری تهاساسی توجه لازمه ده اوهر لیکوال باید دهمدردی پهنامه دترجمو کار وکړی . تر څو چهخپله ژبه له پرېوتو نه وساتی !!

(رشتین)

ښاغلی محمددین (ژواك)

دادب موضوع

دا موضوع زمونږ اوسنیو نامتو ادیبانو ترڅېړنې لاندې نېولې ده او هر یوه دخپل استعداد سره سم په همدې موضوع څه رڼا واچوله - که څه هم زه نه ادیب یم او نه دادب دعوه لرم سره له هغه مادخان محمدایوب خان دوینا چپه خوا راواخستله - دی وائی : « زه دعملی بې ادبۍ نه و بې عمله ادب ته منتقل شوم » مگر زه غواړم چه دبې عمله ادب نه وعملی بې ادبۍ ته هڅه راوکوم اووایم چه : انسان دفکر کولو قدرت لری اودارادې واگی هم دده په لاس کښې بولم ، دالاڅه چه دعمل جرئت هم دده په اختیار کښې دی مگر پرنورو باندې دعمل دعکس العمل ښه تاثیر یا بدتاثیر دده په قدرت کښې نشته ، داشی لاڅه چه زه په ډېر جرئت داویلای شم چه : دعکس العمل تصور هم دده وذهن ته گران شی بولم - هو ! دلته به زمونږ پوهان ددغه مقالې داوستلو په وخت کښې و وائی چه : داځوان خو په قطعی صورت دانسانی پوهې دقدرت او اجراآتو نه منکر شوی دی ، سره له دې چه داوسنۍ نړۍ دادومری پرمخ تلل دانسانی شهکاریو شاهد بلل کېږی .

مگر زه دسر په سترگو داشهکارۍ وینم اوداهم وایم چه : داټولې شهکارۍ دانسان دفکر او عمل مولود دی خوسره له دې هم پردې نه یم قایله چه انسان په همدې صورت سره داکار غوښت اوپه هغه صورت وشو .

انسان برق درڼا دپاره غوښت خو فعلی انعکاس دانتیجه وښندله چه سړی هم مړ کړی نو که ددغه مړی قاتل څوك « اډیسن » وبولی زما په خیال چه دا به صحیح هم نه وی ، نودلته باید سړی دانسانی نړۍ ودې پرمخ تگ ته چه دانسان په لاس شوی دی و یو بل قدرت ته هم قایله شی چه هغه یوفوق الانسانی قدرت دی .

ښه دا ادعا چه دانسانی نړۍ ودانېدل دانسان په لاس ویو بل قدرت ته وسپارل شی ، آیا وهغه ته به په خارج کښې بل څرنگه یومثال پیدا کړو ؟

زه ددې خبرې ځواب داسې وایم : دانسان ترخوله هوا راوتل اودهغه په اثر دهوا ذرات په اهتزاز راوستل خودانسان په سږی پورې اړه لری مگر دهغه اهتزاز عکس العمل چه ددوی د ښورېدلو په اثر پیدا کېږی دهغوی دږغ دښه والی اوبدوالی انعکاس دانسان دقدرت نه بهر بولم یوانسان



ښاغلی محمد دین (ژواك)

کولای شی چه دا حرکت دې پورته اوښکته کړی مگر دا نه شی کولای چه هغه دې په ښه ږغ یا بدږغ تبدیل کړی که داشی کېدلای شوای نوهرسړی به اقلاً وخپل ږغ ته دښه والی رنگ ورکړی وای نوڅرنگه چه داشی دانسان ترقدرت لوړدی دانسان دفعل دانعکاس ښه والی اوبدوالی هم په همدې صورت دانسان ترقدرت لوړ ښکاری نو زه دلته داکثرو پوهانو ناکامی هم د همدې وجه نه بولم چه دوی پخپل ژوند کښې په اکثر صورت ناکامه دی ، څرنگه چه ددې خبرې داثبات دپاره دتاریخ پاڼې شاهدې دی نوباید پوهان زما داخبره ومنی

او که دوی د لنډو اشخاصو هغه کامیابی چه یوبل قوت یافوق الانسانی قـدرت دوی دهغه په اثـر پهژوندانه کښې کامیاب کـړی وی وستر گـوته دوري دوري کوی او یاداچه دخپلې خبرې دصحت دپاره دمنطق صغری او کـبری پله او ډی اومنطق دمنطق دپاره پهکاراچوی نو بیاهم ددوی اختیار ! راغلو اوس دادب وموضوع نه چـهزه ادب څه چه د ټولـو مستظرفـه صنایعو و پیدا کـېدلوتـه په « بداهت » سره قایل یم اودا وایم :

داصنایع په بداهت سره ومیدانته وتلی دی اوددغو صنایعو پیدا کوونـکی هغه فوق الانسانی قدرت دی چهدحقیقت کـشف ئې دانسان تر قدرته لوړ دی ـ او که داسې نهوی نوپوهان دې وماته د اقبال شاعری یادتاگور دطبیعت سره آشنائی پهکـسب سره دبلچانه وښیی ؟!

هو ! ډیرو انسانانو سیاسی اواجتماعی درسونه وویل مـگر دگاندهی استعدادته بې لهدینه چهونیز پهبداهت قایله شوو چهدا قدرت دهته دده تر وجود دمغه یوبل فوق الانسانی توان دده سره راوړی اودی ئې پرې موفق کړ چهدا موفقېدل ز دگاندهی نهبولم بلـکـه دهغه قدرت اوبداهت نهئې بولم چه دده ترقدرته لوړ ـ دادی چهزه وبل استعداد ښـکاره کولوته نهگرېزویلای شم نهفرار !

تاسې ئې داسې فرض کـړی چه کهزه دادب استعداد ښـکاره کولوته پهگرېز هم قایل شم دناپلیونی استعداد ښـکاره کـېدلوته په بیاڅه وویلی شم ؟

کهفرضاً وهغه استعدادته دده دفـکر پهقدرت قایل شم دده دهمدې استعدادی مادې وترکـیبته چهدمغه دده ترظهوره سره یوځای شوې وه هغې ته پهبیا پهکوم نوم قایل شم پههمدې ډول کـه څوك داسلسله نوره هـم سره وسینی نوضرور پهددوی منطق دوی د «دور» پهگناه ونیسی پههر صورت مونږ باید ادب وهغه لوړ بداهت ته ووایو چهانسان دده مصدر وی خودانسانی فوق القدرت پهقدرت سره چه دابیا دهـر عصر ، دهرې قبیلې ، دهر انسان د نشاط اوالم دپاره پهبېل صورت ځان ښـکاره کوی اودانسانی نړۍ دباغ گـلوی اوپهعطروئې خپل ماحول معطر کړی وی .

راغلو ودې خبرې ته چه « جذبات اواحساسات متاثر کـېدل یاکول ادب وبولو » دا الفاظ هـم باید دادول تصریح شی چه دجذباتو او احساساتو متاثـر کـېدل محض د بداهـت یاادب د اظهار یاښـکاره کـېدلو دپاره دی یاداخبره بایددادول وشی چهدجذباتو اواحساساتو متاثره کـېدل یاکول دکمال دمثل ښـکاره کـېدونـکی دی نـه داچه پیدا کونـکی ځکه پیدا کونـکی یو معنی لـری اوښـکاره کونـکی بلهمعنی مثلاً ددېوی گروپ درنا ښـکاره کونـکی دی لاکن پیدا کونمکی ئې نهدی او پیدا کونـکی ئې دبلې قوې جریان بـلل کـېږی پههمدې ډول هندارهدصورت پیدا کونـکې نهده اوښـکاره کونـکې ئې بلل کـېږی نوښـکاره کـېدل اوپیدا کـېدل دواړه یوه معنـی نهلری اونه داڅوك ویلای شـی چه پیدا کـېدونـکی ښـکاریدونـکی دی یاداچه بالعـکس اقرارو کړی او دواړه یوشی وبولی نه داخبره چه جـذبات او احساسات پیدا کونـکی نهشی او دادب ښـکاره کونـکی شی نومونږدهغه څخه څهډول نتیجه اخستلای شو؟

دلتهومونـږته داخبره کول همداحقیقت ښـکاره کوی چهادب داحساساتو اوجذباتو ترتاثر دمخهم بالقوه شته خوبالفعل په یـوه خاص صورت ځان ددوی دتاثر پهواسطه ښـکاره کوی ز مونږ دهمدې وینانه ښـکارهشوه چهمونږ داحساساتو اوجذباتو وتأ رته په یوه مقیاس سره قایل شو اومقیاس هم فرضی شـی دی چه دمقیاس دپاره هـم مقیاس پیدا کـېدلی شی سره لهدی چهدجذباتو اواحساساتو وتاثرته پهظاهره مقیاسویل لهعقل نهلرې ښـکاری مـگر داخبره کـه په غور سره وڅېړله شی لهعقله

یا تی په یولحم مخ کښې

ښاغلی غ ، ح

پښتون او معارف

ددې مجلې په (۳۲۹) ګڼه کښې مې د پښتنو تعلیمي بېرته والی څرګند کړ ، غرض مې داؤ چه د معارف دواکوالانو فوری توجه او پاملرنه دې خواته را واړوم .

په دې ګڼه کښې غواړم چه ټولو پښتنو عزیزانو سره خبرې اترې وکړم او که ژوندو، په در ېمه برخه کښې به د پښتنو منورې او پوهې طبقې ته خپل عرض وړاندې کړم او ددوی د مسئولیت او وظیفې په شاوخوا کښې به د پښتنو د بېرته پاتې کېدو په باره کښې څه ولیکم .

د پښتنو د تعلیمي بېرته پاتې کېدو اوی عامل او سبب د پښتنو د کوچنیانو دواکوالانو بې پروائی او غفلت هم کیدای شی ځکه له بده مرغه دوی دې خواته لږ څه خوځه چه هیڅ پاملرنه هم نه ده کړې، دوی هډو دې ته هیڅ نظر نه کوی چه خپل زامن د هاغې زمانی د پاره تربیه کړی چه هاغه زمانه به ماورا ددوی د زمانې وی . د پښتنو د ښکلو او ګلالی ماشومانو قیمتی وخت بابېزه وړ یا تېرېږی ، یا د غوا او خوسی پسې روان وی او یا په عبثو او بې ځایه لوبو لګیاوی او یا که د شتمنو اولادونه وی هغه نو په چټی ناز او نخرو لویوی او دوی هاغه رښتنی مسئولیت ته چه ددې ګلا لیو ماشومانو د تعلیم او

د لسم مخ پاته

بعیده نه ده ځکه چه دا هر چا لیدلی ده چه کله باطنی ادراکات پر ظاهری جذباتو او احساساتو تاثیر وښندی او ترستر ګو اوښکی تویی کړی او کله بیا ظواهر پر باطنی جذباتو تاثیر وکړی او د هغه په اثر باطنی احساس مهیجه شی او سړی وژړوی چه دا مسئله د سینما ګانو په صحنو کې ډېره لیدل شوې ده مثلاً اکټر یا اکټریسه په صحنه کې ایکټ کوی او حقیقتاً کوم غم نه وی ورپېښ شوی خو د صحنې محض تاثر لرونکی حالات دا وژړوی یا دا چه سړی د قریب د غم ارویدلو په اثر وژاړی نو دلته مونږ و جذباتو او احساساتو متاثره کېدل په ښه صورت مقیاس بللی شو چه کله دوی د حادثې د پېښې د پاره مقیاس او کله د حادثې پېښه و دوی ته مقیاس شی او څرنګه چه د مقیاس د پاره بل مقیاس پیدا کېدلی شوای په هغه صورت د جذباتو او احساساتو و تاثر ته هم قرار نشته .

نو په همدی سبب د جذباتو او احساساتو متاثر کېدلو یا کولو ته مونږ د ادب پیدا کونکی نشو ویلای او په خاص ډول ورته ښکاره کوونکی ویلای شو.

که مونږ و همدی تأثر ته په عام ډول ادب ووایو نو مونږ ګواکی بی ادبه عمل ته هم ادب ویلای شوو ځکه چه ددې شی کوونکو هم داشی یا عمل د جذباتو او احساساتو په یو ډول تاثر سره کړی دی.

سره له دی چه ډېر عام انسان هم د جذبی او احساس ودې ډول تاثر ته ادب نه وائی څرنګه چه ادب د جذباتو او احساساتو و هر ډول تاثر ته ویل کېدای نه شی او نه هم د ژوندانه څخه ګریز او فرار ته ادب ویل کېږی نو مونږ باید ادب بداهتی قدرت ته او هغه قدرت ته چه ترانسانی قدرت لوړ دی ووایو چه هغه ترانسانی قدرت لکه څرنګه چه ما د هغه د پاره د فعل د عکس العمل او د صوت د عکس العمل مثالونه وښودل یوه لوړ قدرت ته قابله شو او دا ووایو چه ددی شی یعنی ادب ښکاره کوونکی د جذباتو او احساساتو متاثر کیدل دی نه دا چه د جذباتو یا احساساتو تاثر داشی پیدا کولای شی او دا شی باید لکه د انسان نور استعدادونه تر یوه حده و انسان ته حواله او په قطعی صورت و هغه لوی قدرت ته چه ما د هغه ذکر وکړ وسپارل شی .

ګرانو پوهانو ته ما د مخه لا د عملی بی ادبی پر کړو اعتراف وکړ دادی را څخه وشو !

اوس نو ستاسی خوښه چه ! دا « بی ادبی » بولی، که « نظریه » ؟

تربیې په باب ورپه غاړه دی هیڅ ملتفت نه دی او زیاتره دغو سپېڅلو اوپاکو کوچنیانو ته داراز تلقینات کېږی چه په پای کښې ئې دخپلو عزیزانو او نزدې خپلوانو سره په بدۍ، بدبینۍ، اودښمنۍ اخته کړی همدادی چه دپښتنو ټول قوت دیوبل په بربادۍ اوتباهۍ لګېږی اوتل ئې په خپلو منځو کښې په جزوی، اوډېرو عادی شیانو اخوډب وی، اویو په بل دمټاړواو هڅه کوی، له عالی افکارو او جګو خیالاتونه بېرته اوېږی دوطن او کام دجګېدواساسی فکر او سودا ورسره نشته.

د تعلیم دپاره دکوچیانو لېږل دباندې خولاڅه کوی چه په کور او کلی کښې نژ دی هم چه ښوونځی پرانیتل شوی دی ورسره ښه علاقه نه لری او دزړه په خوښه هلکان ورته نه استوی اوددوی په تعلیمی برخه کښې ډېرلږلګښت هم په ځای لازم نه بولی.

ځینی پښتانه وائی چه مونږ غریب خلك یوخپله غریبی کوو، دومره طاقت نه لرو چه واړه مو ښوونځیو ته لاړ شی او ځینی نور ښوونځی د کوچنیانو د اخلاقو د خرابۍ سبب ګڼی. شتمن خو ئې په خپلو پیسو او جایدادو غره وی وائی:

(دومره شته چه دوی ئې وخوری څله ئې په تکلیف اخته کړو) حال داچه داټول دلیلونه ئې چټی او بابېزه وی.

زه یو کلیوال پښتون یم دخپلو پښتنو عزیزانو په ژوند ښه خبر یم، داچه وائی غریبان یو، زه ئې هم منم چه غریبان یاست. اما له غربت ځنی په دې نشی خلاصیدای چه واړه مو بی تعلیم او بې تربیې لوی شی، او بلکه که هغوی دتعلیم او تربیې خاوندان شی تاسی له غربته خلاصیږی. په ښوونځیو کښې درنه څوك روپۍ نه اخلی اونه دکاغذ، قلم، کتاب قیمت او یا دمعلمانو تنخواه ورکوی، بلکه دا ټول وړیادی، صرف تاسې دغوائی او خوسی پوول په ځان نه اخلی ځکه تاسو خپل واړه ماشومان د خپلو مزدورانو په څېر استعمالوی، او ددوی د تعلیم او تربیې په باره کښې غفلت او بې پروائی کوی.

هغه څوك چه د پیسو او جایدادو په ډاډ ګېر نه خپل اولادو نه نه تربیه کوی بېخی په غلطه لار روان دی او خپلو ملی، وطنی او وجدانی مسئولیتو ته پام نه کوی. که یو هلك صحیح او صالح تربیه شی که څه هم میراثی دولت ورته پاتې نه وی هرو مرو ځانته خوډوډۍ مېندلی شی او هاغه کسان چه بې تعلیم او بې تربیې لوی شی که څه هم میراث ئې ډېر وی خو حتما دپلار پاتی جایداد ور څخه په بدو افعالو او بد و لارو ځی.

او څوك چه وائی اخلاق ئې خرابېږی هم په اشتباه کښې دی، ځکه چه تعلیم او تربیه د بد اخلاقۍ مخه نیسی، اخلاق هله خرابېږی چه کمکیان بې تعلیم او بې تربیې په کوڅو او کلیو کښې خوشی ګرځی هو ممکن دی چه ځینی ښوونځی به څه نواقص او عیبونه واری خو هر کله چه تاسې و غواړی چه واړه مو دتعلیم او تربیې خاوندان شی د ښوونځیو حال ته متوجه اوسی، څه نواقص او عیبونه مو چه ولیدل فوری ئې د پوهنې وزارت واکوالانو ته څرګند کړی او ددوی سره داصلاح په باره کښې اساسی خبری اتری وکړی نه داچه خپل اولادونه له ښوونځیو څخه ستانه کړی.

دیو ملت علمی او تربیوی ډډه هله ښه کېږی چه دوی منظم ښوونځی و لری او بی له منظمو ښوونځیو هیڅ مکنه نه ده چه په یو ملت کښې علم او پوهه عامه شی، ښوونځی هغه وخت میدان ته راځی چه ملت کښې دکوچنیانو د تعلیم او تربیې فکر او شوق موجودوی او دښوونځیو ضرورت احساس شی نو بیائی تاسیس ته اقدام وکړی.

آیا داښه ده چه دوی بې له تعلیم او تربیې لوی شی دتربګنی خیال ئې په سرو کښې وی، او تل دخپلو عزیزانو سره په بدۍ او دښمنۍ اخته شی، او یا داچه د تعلیم او تربیې خاوندان شی، داکتران شی دخپلو عزیزانو دروغتیا غم وخوری مهندسان شی چه د پښتنو وران ویجاړ ډاګونه ودان کړی، انجنیران شی، بندونه، نهرونه، دبرق کارخانې

سازي کړي، داقتصاد متخصص شي چه د کام د کېډي او لباس غم وخوري ، سیاسي، اداري اشخاص ورنه را پیدا شي چه دوطن داخلي ، چارې سمې کړي او په مېنه کښې اساسي طمانیت او امنیت قائم کاندي لنډه ئې دا چه تعلیم او تربیه دوی او ددوی کام له بد بختـــۍ نه خـــلا صوي او وطـــن و دانوي ، پښتنو عزیزانو!! رښتیا به سره وایو ـ چه په دغه باره کښې پښتنو تر اوسه پورې ډېره بې پروائي او بې غوري کړې ده هو ممکن دي چه د پوهنې وزارت هم څنګه چه ښائي پام به ئې نه وي کړي خو متل دي چه (څه غنم لامده او څه ژرنده پڅه) نتیجه دا شوه چه پښتانه د انساني کاروان ځنې ډېر وروسته پاتې شوي دي ما یوه ورځ څوتنو جنوبي والو عزیزانو ته وویل چه هاغه پښتانه چه په ښارو کښې ژوند کوي او کډن دلته دي باید خپل هلکان او جینکۍ په ښوونځیو کښې داخلې کړي بدې بدې ئې راته وکتل د لحاظ نه ئې څه راته ونه ویل خو د هلکانو د داخلېدو وعده ئې وکړه . حتی ځینې کندهار یانو عزیزانو سره مې ولېدل هغوی ته مې وویل چـــه د پښتنو یو ښار کندهار دي ، او هـــالته د نجونو ښوونځي پرانیتل شوي دي باید کوشش وشي چـــه جینکۍ په کښې داخلې کړي ، په دوی هم چندان ښه ونه لګېده مګر بیاهم امید شته چه کندهاریان عزیزان ورځنې استفاده وکړي . پښتانه د نجونو په تعلیم کښې هم اشتباه کوي ، د ینا هم علم په نر اوښځه فرض دي ، ننني د نیا ددي مقتضي ده چه ښځې باید تعلیم او تربیه ولري ترڅو چه راتلونکي نسل د پوهې او عالمي مور په لمن کښې رالوي شي او څنګه مې چه پاس وویل علم او تربیه انسان له بد اخلاق او رفتار ځنې ساتي . څنګه چه نن دنارینه و ، دنه تربیه کـــولو په اشتباه پوه شوي یو سبابه دنجونو دنه تربیه کولو په سهوه هم پوه شو ، خو متأسفانه چه د اوسنیو نجونو د تعلیم او تربیې وخت به رانه تېر وي .

په هر حال د زیان او نقص مخه چه له هر ځایه ونیوله شي بیا هم ګټه ده . زه ددې دومره تفصیل مطلب په لاندې ډول پښتنو عزیزانو ته پیشنهاد کوم .

۱ـ پښتانه باید خپل اولاد ضرور ښوونځیو ته واستوي ، ډومبي ښائي چه د کام مشران دا اقدام وکړي علاوه پردې دخپلو شاوخوا عزیزانو اولاد چه دښوونځي وړدي ښوونځیو ته واستوي او په تعلیم او تربیه دې پوره پاملرنه واري لکه چه پخوا مې وویل د پښتنو قاعده ده چه خپل اولاد ته مځکه او هستي په میراث پرېږدي خو ددوی په تعلیم او تربیه ئې نه لګوي حال دا چه د اولاد تعلیم او تربیه په پلرو او واکوالانو پور دي زما په خیال ددې پځای چه خپله هستي او دارائي دوی ته په میراث پرېږدي بهتره داده چه هغه ئې په تعلیم او تربیې ولګوي او دا ډېر ضروري امر دي ځکه هر کله چه ددوی اولادونه د صحیح تعلیم او تربیې خاوندان شول نو په خپله دوی دخپل ژوندانه غم خوري .

څوک چه توان نه لري ممکن دي چه د پوهنې وزارت سره که اساسا مفاهمه وکړي دلیلې انتظام به ئې وکړي شي که فرضا ونشو ، اوس باید په دغه باره کښې فکر او سنجش وکړي او دغه راز محصلینو سره مرسته او بسپنه وکړي .

۲ـ په هاغه ځایو کښې چه لا تر اوسه ابتدائي ښوونځي نشته باید مربوطه مقاماتو ته عرض وکړي چه ښوونځي پرانیځي ، په دې مه روا داره کېږي . چـــه ستاسو پـــه محض بې پروائۍ او غفلت ګلالي ماشومان مو په شلم قرن او د اتوم پـــه عصر کښې بې سواده او ناپوه اوي شي .

۳ـ هاغه پښتانه چه په ښارونو کښې اوسي هغوی ته ډېره لازمي او حتمي ده چه خپل هلکان او جینکۍ په ښوونځیو کښې داخل او جداً متوجه شي چه اولاد ئې خپل تحصیل تر پایه منظم تکمیل کړي .

که چېرې په رښتیا پښتانه اوس هم دخپلو اولادو تعلیم او تربیې ته متوجه شي امید دي چه د پښتنو دغه لویه نیمګړتیا رفع شي او وکړای شي چه په پوهه او لیاقت سره خپل کام او وطن ته خدمت وکړي او بیا به دخپلې ناپوهۍ او بې تعلیمۍ پـــه واسطه دنورو داغراضو دپاره استعمال نشي .



ښاغلی سیال

نوی ادب

مینه

دوه‌مین بیلتانه زپلی د رقیبانو لمسون او چغلو کړولی د موانعونه خواشینی بریالی کېږی او یوه شپه سره یو ځای کېږی. دادهغوی دوصال شپه ده. د رازونیاز شپه ده، د هغوی دامیدونو او اسرو د پوره کېدو وخت دی. دوه‌مین زړونه، دوه د یو بل‌دلیدوپسی لېواله سترګی، د دوومینو خولې سره یو ځای شوی‌دی او د رازونیاز خبری کوی:

لمړی: دا ویښ یم که خوب دی؟

دوم: (خندا) هاها.... ویښ ئی و یښ!!

لمړی: دا نو دنیا بدله شوه؟ که څنګه؟ دوومینوته دابی عاطفه او بی زړه سوی انسانان د یو ځای کېدوفرصت څنګه ورکوی؟

دوم: نه! نه! دنیاهم‌هغه‌دنیاده،هډو بدله‌شوی‌نه‌ده! خودا په خپلو کوښښونو او دحقیقی مینی په‌برکت مونږخپل تقدیر بدل کړو! مونږ د چا احسان نه منو او نه په مونږ چارحم کړی‌دی، دانسانانونه‌ترهغی چه څو پوری دبل د ازارولو او کړولو جذبه پکښې کار کوی‌داتمه اواسره‌چه چاته به ښېګڼه ورسوی با لکل غلط کار دی! زمونږ په دې یو ځای کېدو کښی پرته زمونږ له حقیقی مینی او د محبت د جذبی دکشش نه دبل هیچا دخل هم نشته، مخکښی زمونږ پوخ عزم او قوی اراده نه‌وه او زمونږ مینه لادې حدته نه وه رسېدلی چه دومره جذابیت پیدا کړی اوس زمونږ په مینه کښی هغه کهربائی طاقت پیداشو نو یو ځای کېدل لازمی شو.

لمړی: ها! ښه! دا کار دی؟

دوم: هو! ته نو څه وائې؟

لمړی: هغه وخت چه ما لمړی ځل ستا ملالې سترګی ولیدلی او په‌تامې زړه بایلود زما دا مینه را پیدا شوه، هغه څه ؤکنه! چه دپسرلی په ګلانو کښې مونږ دواړو د خپل کلی پخوا کښی لوبی کولې؟

دوم: هو! هو! په زړه‌می‌شو! هغه دګلو غونچی به مو چه جوړولی اویوبل له به‌موور کولی!!ـ او په ګلانو باندې به مویو بل ویشته!!

لمړی: هو! هم هغه وخت لمړی وار ؤ چه زما په زړه کښې ستا مینی ځای ونیو، په تېره هغه وخت چه تاماته دګلانو یوه ښکلی ګېډۍ تا په خپلو ښکلو لاسو راکړه، ما لمړی د ګلو ګېډۍ

او بیا ستا سترگو ته چه وکتل ، بس زما زړه بیا زما نه ؤنو! مادگلونو او شینـــگو په پاڼه پاڼه اود کائناتو په هره ذره کښې هم ته لیدلې بل څه نه ؤ !!

دوم : هو ! رښتیا ! ښه می په زړه دی چه تاماته وکتل ستاله سترگو نه دمینی او محـــبت نښی ښکاریدې ، ستا دمهربانی او مینی ډکو سترگوزما زړه همرا ښکود او زما مینی له هغه وخته تا سره کوشېر وموند .

لمړی : هو ! کـه نه! مینه خوله مینی پیدا کېږی .

دوم: دا انسانان نویو بل سره ولی مینی نه کوی ؟ چه مینی ترې را پیداشی کنه !!

لمړی : د انسان په زړه کښې خو یواځی مینه نه ده !

دوم : نو نوز لاڅه دی ؟

لمړی : دا خو زه اوته یو چه پرته له مینی نه بل څه نه پېژنو د انسان سره نوری مختلفی جذبی هم شته لکه د نفرت ، کرکی ، غضب ، حرص ، او هوس .

دوم : د انسانیت د پاره د مینی د جذبی نه پرته نوری جذبی څه پکار دی ؟

لمړی : ته نو د انسان نه نعوذ بالله منها پرښته مه جوړوه !

دوم : استغفرالله ! زه دا نه وایم خوداوایم چه دانسان کرامت څه شو ؟

لمړی : دانسان کرامت خو په دې کښې دی چه دی په دغه جذباتو قابوراولی ! ځکه انسان اصلاً د ابتلاء د پاره پیدا شوی دی او د جزاء او سزا اصول هم ددغی فلسفی په اساس جوړېږی .

دوم : نو ته چه دامنې چه انسان د ابتلاء د پاره دی ! نو ددی نه خو دامعلومېږی چه که انسان کوښښ وکړی نو دا نوری جذبی د مینی او محبت په جذبو احاطه کولی شی او څه به ښه وای! چه که ټول انسانان یو بل سره د مینی او محبت په فضاء کښی را ټول شوی وای !

لمړی : د انسانیت او ټولنی تقاضا خو همدغه ده خو ځینی خلك چه ددغی تقاضا پروا نه کـــوی هغه د انسانیت د پوړۍ را لاندی په حیوانیت اکتفاء کوی او یوازی په شخصی گټه کښی لذت مومی! او د نورو مفاد چه د انسانیت او شرافت او جماعت د اصولو تقاضا ده د خپلی گټی د پاره قربانوی او په ډېره بی دردۍ د انسانیت د تعمیر بنسټ ورانوی . مینه او محبت فنا کوی او وحشت او نفرت راپیدا کوی !!

دوم : بس کړه ! بس کړه ! د داسی چا نوم په خوله مه خله ! پرېده ! دامه یادوه ! ورك کړه دا ورك کړه ! دداسی چا په یادولو دسړی زړه بو گنېږی ، خوله پرې بده ښکاری!! دانوانسان وی څه؟ تش په یادولو یې زمونږ دا خوږ مجلس پیکه شو !! نور دابحث پرېږده ! راځه ! چه مینه وکړو ، د مینی دنیاجوړه کړو د مینی تخم وکړو دمینی اومحبت درس ورکړو په انسانانو کښی مینه راپیدا کړو!مینه!

لمړی : مینه ؟! په (خندا) مینه !

دوم : هو ! مینه ! راځه مینه !

د مینی په فضا کښې دواړه مین سره یو ځای کېږی !! یو وائی : زما څنگل بل وائی زما څنگل ، نه زما څنگل ، بل وائی نه زما څنگل !!

دوم : دا زما څنگل د سر لاندې کړه او ستا دې په خپله مینه قسم وی چه زما دا دعوت ومنه !

لمړی : په سترگو !! وائی : مینه ! اخ مینه . . . . . مینه !!

ښاغلی م ، ننګرهاری

کوکچه

دپامیر دکښو وږو درو ، دنګو څوکو اوهیبت وهلونا وونونه په ډېر شور ، بېخوده مستۍ اوطوفانی غورزنګونو ، ژوندۍ چپې راکوزېږی ، دیوه جګ اولوړ کمره دپاسه یوزنده دل شاعرورته په ننداره ننداره داسې سندرې ویلې .

دمینو دزخمی زړونو لوګی په ډېر سرعت خپله ماتم کده پر ېخوده اویومقلب حرارت زر ، زر په خپله غېږکې دهوا دپستې غېږې نه دشبنم په شکل کښې زمینی عالم ته راکوزکړو ، کوکچه اوس دمهجورو زړونو ددرد وارخطا څرېکې اوترارې دی .

ملکوتی عالم دفطرت په نظر فریبې رنګینۍ اوهردم خیالو جذباتو پورې ومسېد .

ددې ړندی دنیاګۍ کثیف حقیقت یی په خپله اصلی قواره کې مجسم کړو دکائناتو دخود سرو اوبې جلبه بچو ناانجامه اوبې غایې منډو ترړوته تعجب واخیست .

کوکچه دهغې خمارآلودې قهقهې یوتازه اولطیف انعکاس دی .

طبیعت پخپله غېږکې دفاسدو عناصرو حیرت افزاقوت اوترقۍ ته وارخطا شو هغه دخپلې هستۍ دفساد اوبدنامی نه چه دغه عناصریې پرې راولی متاثر اوغمګین شو دې زبردست اوسپین سترګی جسارت ته چه دطبیعت نااهله موالید ئې دخپلو کثیفو خواهشاتو دانجام دپاره په کاراچوی غریو واخیست هغه دخپلې ابتدانه دغائې انتهانه متوجه شو اوخپل انقلابی حقیقت ئې په زړه تیاره راوسته غمګین شو په زار ، زار ئی وژړل هیبت واخیست رقت ونیو .

اوس کوکچه دطبیعت دتغمو اوخون پرو لېمو مهجورې اومسافرې اوښکې دی .

کوکچه دشاعر دلطیفو اوناز کو جذباتو تراوشونه او رشحات دی .

اوه ! کوکچه مست دی .

کوکچه لکه کېچه په دنګه غړۍ موج وهی .

کوکچه لکه درندانو دمستو جذباتو اومیخوارو دطاغی احساساتو غوندی اوړی ، ژمی زګونه نولی هو! کوکچه مست دی ، ولې به نه وی ؟!

کوکچې دګلونو دمستو اومخمورو نظرونونه دمرور بورا ستړی ارمانونه په شاکړی دی کوکچې دمین دزړه بوګنیدلی اووارخطا خواهشات په غېږکې نیولوی .

کوکچه دشپې په تیارو اواضطراب کې دخپل ځان پخپله ننداره ده .

کوکچه دفطرت اوطبیعت دمترقی عناصرو روح دی .

کوکچه دمضطربو اوپریشانو اراداتو جوهردی .

کوکچه دنسیم دخوایو ترور اوګړندی پیغام دی .

شاعر دیوې ګټی نه بلی ته ورنژدی شو « دپارچې یومخ ډک شوی ؤ » .

هغه دکوکچې دلطافتونو دنوی ادراک تازه جملې دکاغذ بلې صفحې ته نقلولی چه :

دشپانه دمېږو اووزو چپاو پرې راغی دشاعر دخیال رنګینی مضطربه شوه .

شاعر اوس دآزادو اوهسکو غرو و دبیخو اوتازولو گلونو ننداري ته لحیرشو دهري مېنري وزی ښکری اوفدم گویا دشاعرزړه پایمالاوه اودالحکه چه دکوکبو هستی دشاعر دجذباتی ژوندون سرنامه وه اودي بهاکو اووحشی حیواناتو هغه دیر بیرحمانه پایمالول .

شیانه دشاعر یه خوا کهی دانگ کیښود اودخپلی زړي بدي نه ئی یوه وړه مگر ښا ئسته شپیلی راوویسته شیانه دشپیلی نغمه دکوکچی دیاغی اوسر مست موج سره سور کړه .

شاعر ددوو کیفیتونو ترمنځه تخته بند اولکه دخپل خیال کیف آلود اوپر کاله شو اوس دکوکچي دجست اوخیز اثر دشاعرزړه ته لاره وکړه اودجذباتو یه هجوم کي کوکچی ته یه ننداروشو .

کوکچی داوړو خوکو عظمت دخاموشو اوساکتو لحنگلونو هیبت دمتحیري اولامتناهی فضا بي بسی دآبشارونو تراري دموج انداز اودنسیم پریشانی یه یه کړي ده اویه منده ، منده لحان وباسی .

کوکچي دساحل آئینه ماته کړي ده دستورو مسلك نظرونه اودلمر سیوزمی وړانگی ئي یه غیږ کي ویدي کړی دی .

کوکچي دلاجورد ، طلا اودبدخشان دسرو لعلونو خزانه رابار کړي اوخپلي فرپانگاه ته ئي دپیش کش یه توگه رسول غواړی .

کوکچه دیوخونی اوتباه کن ازدرغوندي دژورو کندو ، گنو بوتو ، اوبو گټو او کمرونو یه خوا کي پټ ، پټ لحای ته لحان رسوی .

آه ! ای سینده ! ای ابشاره ! ای موجه ! چیرته یه منده ، منده روان ئی ؟؟

دچایه طلب کي سرگشته اولالهنده یي . ؟؟

ستایه فطرت کي حرکت دژوند اوژوند دحرکت یه معنی دی !

طلب دژوند اوژوندی دنیکبختی اولار موندلو وسیله ده ، یه مجهول سرنوشت کي تلاش دحیات نیمگړتیا پوره کوی دورکي لیلا لتون دعشق دیخته گی الهام دی .

آه دیښتونخوا دښکلی لحمکي او آسمان سره ستا دلیدو وروستی اواخری گړی دی .

ستر گي ، ستر گي شه اوددي پاکي فضا دننداري نه دخاطراتو ذخیره واخله ! .

ښکل کړه ، ښکل کړه دخواږه وطن کاڼی بوټی ، دي اوړو کمرونو اودنگوونه دوداع اووروستی دیدن سلام ونیسه .

ددي پریچو اوکښرو وږو درو یه احترام تیښه اودخپل فراق ماتم وهلي سندره دی لښه نوره هم یه زوره کړه .

ای دیښتون داحساساتو ممثله !

دافغان دتودو اوبي پناه جذباتو پیامبره !

دآمو سره اوبي خبره سینه وخبره !

دآمو ساحل آموزی ستر گي طوفانی کړه !

دغه منجمد سکون ته حرکت زده کړه !

یه دغه آرام جمعیت کي پریشانی پیدا کړه !

یوسه ، یوسه دآمو غافلو جغبوله دانقلاب پیغام دحرکت خبر دطوفان هنگامه اودسرشار ژوندون سرنامه .

آموته دشاهین اوباز هغه تو دي اوتیزی امانتی اوښکې چه دمټ اوپنجې دماتولو په شوق کښې ئی توئی کړی دی ورسوه .

دبی جلبه پړانګانو اونا آرامه زمرو دهغه مر موزو اوپر اسرارو ، ترارونه لښ څه آموله هم ورکړه دکومو نه چه ستا مستو اوخودپرستو سترګو طوفانی زده کړی ده !

مخکی لاړشه ! هیڅ قوت ستامخی ته پوله کېدی نه شی .

آموتاته لار پرېږدي او کـه نه وی مجبورئي کړه !

هغه مه پرېږده چه تاپه غېږ کې ونیسی .

کوره محصور نه شی .

سکون اوآرام ستادناقرار اومضطرب ژوندون دائمی فنا اومرګ دی .

قوی ژوند اوآبرومنده زندګی هماغه ده چه په عین جمعیت کې مشخصه اوممتازه وی .

ای دآزادی پیغامه !

ای دانقلاب سرنامې !

ای دحرکت ، پرغل اوچپاؤ روحه ! مه پرېږده ! پخپله لطیفه اومعصومه سینه دګناهګار او شهوت پرست انسان دتګ راتګ لیاره !

حرکت کوه په حرکت کې برکت دی .

حرکت دآزاد ژوند ، جګو سترګو ، آسوده عمر . ځری اوپیش خیمه ده .

ځه ! په منډو، منډوځه ! چه دفطرت رنګین اوساده بچی دې زمزمه اوری .

چپې د سمندریو آرام ځمونږ فناده ژوندون ځمونږ په دې دی چه آرام نشو هیڅکله

پښتنولی

ب : داکلمه په اصطلاحی معنی سره په ملی قضائی مسائلو کښی د «نرخ» یادبار په معنی هم مستعملیږی. لحکه چه دپښتنو هر لوی قوم لکه احمد زی . ابر پدی . مهمند او داسی نور خپله مخصوصه تیږه لری . لحینی له دغو څخه درنی او لحینی سپکی دی، یعنی لحینو ته «درنه تیږه» او لحینو ته «سپکه تیږه» وائی. یالږڅه نورهم واضح ووایو: هر قوم خپل مخصوص قوانین لری او ددوی جزائی بارونه دگناه په مقابل کښی فرق کوی .

مثلاً دیوزخم «پور» یا «تاوان» دمهمندو په قانون کښی پورنگ او دا پرپدو په قانون کښی بل رنگ تاکل کیږی . نودغه وجه ده چه یوی تیږی ته درنه او بلی ته سپکه وائی .

خورا مهمی تیږی چه دپښتنو په منځکی شهرت لری دمهمند و تیږه داپر پدو تیږه داحمد زو تیږه ' دمنگلو تیږه او لحدرانو تیږه ده ،چه داتیږی په اهمیت او له درجه دی . دتوخو' ترہ کو ' هوتکو . درانو تیږی دویمه درجه اهمیت لری .

داهم باید ووایو چه کله د«جرگی» او (تیږی) کلمه دیوی معنی افاده کوی او په لحینی محاورو او موارد و کښی یوه دبلی په لحای کښی راوړی کیږی. مثلاً ددی په لحای چه وائی : داحمد زیو تیږه داسی ده یا فلانی معامله داحمد زیو د تیږی په اصولو فیصله شوه نو دتیږی په لحای جرگه راوړی .

۱٤ ـ مرکه : هغه مجلس ته وائی چه د کومی مسئلی دحل او فصل د پاره منعقد کیږی . مرکه او جرگه دومره لږ فرق لری چه په اکثره لحایو کښی نشی حس کیدلی، هغه فرق دادی چه دمرکی جمعیت دجرگی دهغی نه کم وی ' ددی جرگی سرو ته مرکه چی یاد جمعی په صورت مرکچیان وائی .

۱۵ ـ روغه : داکلمه د«روغتیا» دکلمی سره نژد یوالی لری . روغتیا صحت او سلامتی ته وائی لیکن په اصطلاح کښی ئی د(صلح) معنی پیدا کړی ده . کوم وخت کښی چه ددوو تنو یاددوو ډلو په منځکښی په کومه یوه مسئله نزاع پیداشی او هغه نزاع بیاه جرگی یامرکی په ذریعه دجانبینو په رضامندی دصلحی په صورت حل او فیصله شی ' نو پښتانه

وائی : روغه ئی و کړه یعنی هغه ذات البینی زخم چه پیدا شوی ؤ روغ او جوړ شو .

۱۶- سور لاسی : کوم وخت چه څو تنه په شریکه سره یوسړی ووژنی نو د جزا په وخت کښی قاتل اومعاون سره بېلېږی. سورلاسی هغه شخص دی ' چه خپل لاسونه ئی دمقتول په وینو سره کړی وی . یعنی دقتل مباشرت ئی کړی وی اوحقیقی قاتل وی .

۱۷- بدرگه : دا کلمه دلغوی معنی په لحاظ لکه څه رنګه چه په پښتو سیند کښی هم لیکل شوی ده . په دوشیونو دلالت کوی : اول . هغه کسان چه د قافلی یا یوسړی یادجمعیت دحفاظت دپاره مقرر ېږی چه دخطر له ځایه ئی تېر کړی اودمقصود منزل ته ئی ورسوی .

دویم هغه خیرات ته وائی چه دمړی پسی ئی دستی کوی ' لیکن که د ملی قوانینو دبحث په موقعه کښی ددی کلمی لږشانی ښه تفصیل وکړو او دمثالو په ذریعه ئی واضحه کړو بده به نه وی . فرض کړو دوه فامیله په خپل منځ کښی سره مخاصمت لری او دیوجانب څخه یوتن زیات وژل شوی وی . په دې صورت کښی مقابل جانب د یوخون مقروض دی . نو کوم وخت چه ددغه بل پلو خلکو لاس برشی یوسړی به دهغه تیری کوونکو څخه وژنی . فرض کړو درې قلا گانې یودبل په لاره کښی واقع دی . دمنځ قلا دثالث سړی ده اوطرفین یودبل دښمنان دی نو که دخون مقروض دمنځنۍ قلا دخاوندانو دبدرگی نه پرته ددښمنانو په برید کښی تېر ېږی نووژل کېږی نو ناعلاجه به له منځ کړو څخه یو نفر دتېر ېدو په وخت کښې له ځانه سره اخلی نو چه دامنځ کړی ورسره ؤ نو دشمن به دده په احترام په خپل مقابل نه بلوسی او که څه ضرر ئی ورورساوه نو گویا داضرر ئی منځ کړی ته رسولی دی نو ددوی دښمنی او بدۍ ته به هم ملا تړی .

۱۸ - پگړه : دا یو ډېر مدهش کاردی چه تقریباً اوس کاملاً متروك شویدی دی ' دارسم دمنګلو پوری تخصیص لری لیکن اوس په دننه ملك کښې دمعارف او تعلیم دنشر په لحاظ ورك شوی دی کله د جنوبی په سرحدونو کښې واقع کېږی . دا کار دنورو پښتنو اقوامو په نزد ډېر بد گڼل کېږی ځکه یوازی وینې تویول دی او ښځی هم پکښی وژل کېږی نو په پښتنولۍ کښې دنورو پښتنو قومونو په نزد خوراعار گانه شی .

۱۹ـ سپین پایځی : هغه ښځه چه بی دواده له شروطو بی له ډنګه دو نګه او بی ولور او توی څخه مېړه ته وسپارله شی (سپین پایځی) ښځه ورته وائی .

۲۰ـ کوډی . (کودخه) هغه شی دی چه د مېړو پسونو او رمو خاوندان ئی د غرو په سرو او سازوی او مالداران د شپی یکښی او سی او د مال مراقبت او ساتنه کوی .

۲۱ ـ کېږدی : د څنیو خېمه ده چه کوچیان یکښی ګوزران کوی .

دغه دی اوس مونږ د مخصوصو لغاتو او اصطلاحاتو د بیان څخه خلاص شوو ، په اصل موضوع کښې چه د ملی قوانینو بیان دی شروع کوو :

په تېرو صفحو کښې مونږ داخبره کړی ده چه د پښتنو ملی جزائی دودونه په تولو قومو کښی یوشان نه دی هر قوم ځانته جزائی دودونه او لیاری لری ، لیکن داسی هم نه ده چه ګوندی د رسومو او رواجونو غوندې هره قبیله او هره شعبه ځانته د خپلو بېلو جزائی لیارو خاوندان وی ، داعدلی او جزائی لیاری د پښتنو لوی لوی اقوام لری ، او د وړو وړو عشائرو او قبیلو په منځ کښې دالیاری مشترکی دی ، مخکښې موداهم ویلی وو چه د بېل قانون خاوندان مهمند ، ایریدی ، احمدزائی ، منګل ، او ځدران دی چه د خپل اهمیت په لحاظ د دوی قانون او له درجه ګنل کېږی ، نوخی ، تره کی ، درانی او هوتك هم خپل بېل بېل قوانین لری چه دا قوانین دویمه درجه اهمیت لری .

دا ټول قوانین ثابت او معین مواد لری او هېڅوك حق نه لری چه په هغی کښې تصرف وکړی . هو په پښتنو کښی هرسړی قانون دان نه دی په هر قوم کښې څو کسه سپین زېری او مخصوص اشخاص وی چه د قانون متخصصین ګنل کېږی او قانون ئی په یاد وی ، نو په هرځای کښی چه ضرورت پېښ شی د حل د پاره ئی غوښتل کېږی او د جرګې او مرکې نه وروسته د مسئلی حل کوی او فیصله صادروی .

د پښتنو د خورا مشهور او مهم قوانینو څخه یو د احمدزیو قانون دی ، دا قانون دومره اهمیت لری چه د پښتنو نور اقوام که څه هم خپل بېل قوانین لری ، لیکن په ځینو ځایو او مواقعو کښې د احمد زو قانون او جرګی ته مراجعت کوی ، نو هر کله چه په دی ځای کښې ټول قوانین بیانولی نه شو نو د احمد زو د جرګی برجسته او مهم مواد ترتیبوو او به خپل تالیف کښی ئی شامل وو چه د پښتنولی کتاب تریوه حده تکمیل شی .

داحمدزیو جرگه

لـکه چه د احمدزیو دسپین زیرو څخه اورېدل شوی دی او ډېر پښتانه په ډېرو روایاتو داخبره تائېد وی او تصدیق ئی کوی، داده چه «احمد بابا» چه د احمدزو نیکه دی، ده څو تنه زامن در لودل چه په هغو کښې عیسی او موسی مشهور دی، عیسی په خپلو ورونو کښی ټیټ موقعیت درلود، نو دی ئی وشاړه او دپلار مال ئی په خپل منځ کښې تقسیم کړ، کوم وخت چه احمد بابا خبر شو، دی ئی بېرته راوغوښت او وئی نمانځه بیائی امرو کړ چه هریو دې دده برخه مال جدا کړی (داقصه علیحده شرحه او بسط غواړی، امید دی چه په کومه بله موقعه کښې به ترتیب کړی شی.) په دې ترتیب سره عیسی د «بخری» خاوند شو یعنی برخه او حصه ور کړه شو، او دده تېبزه ترنورو زیاته داهمیت وړو گرځېده.

احمد زی نقل کوی چه احمد بابا په اصل کښی د «خټاوی» و، چه په قندهار کښی یو ملك دی. لـکه چه تر اوسه هم د احمد زو دسکونت دځای لمنی تر قند هاره رسېدلی دی. او اوس هم همدا رنگه کوم وخت چه جبار خیل او معروف خیل چه مشهور قـو مونـه دی داحمد زو سره په کومه جگړه اخته شی ورته وائی: (خټاوی پوری ئی راوډنـگوه!) موسی هم ځانته تېبزه لری. یعنی په احمدزو کښی «دوه تیـبزی» یا دوه (نـر خـه) موجود دی چه مهم ئی دعیسی خیل «نرخ» دی نو ځکه مونږ هم دعیسی دنرخ درویه بحث کوو داخبره هم باید ووایو چه دمهم معنی دانه ده چه دموسی نرخ گوندی کم رواج لری. بلـکه مراد دادی چه کوم وخت دعیسی په نرخ فیصله وشی بل څوك نه شی کولی چه بیا په کښی تغیر و کړی.

داحمدزو ملی قوانین

که مونږ ملی قوانین په موادو تقسیم کړو نو کـار مشلـکېږی، ځکه چه دغه ټول شیونه چه په هرځای کښی دشرحی لزوم لری، دموادو لاندی راوړل مشکله خبره ده. له دغی وجهی ئی دجرم په لحاظ په وړو وړو برخوویشو.

خون یاسری وژل

دیو سری خون بها داحمد زو د ملی قوانینو په حساب دری نیم زره روپۍ کابلی دی چه اوس ئی دپول دتنزیل په لحاظ معیار بنایسته پورته تللی دی .

که چیری دمقتول ورثی ته نجلۍ ورکړی شی ، نودنجلۍ واور په اصل خونبها کښی رالحی او حسابیږی دگوتلکی په مقابل کښی دوه برخی اودرونی په مقابل کښی دریمه برخه خون بها په حساب کښی مجرا کیږی او باقی پیسی نغدي تادیه کیږی . عموماً دقتل په مسائلو کښی ددی دپاره چه صلح تر ډیره پاته شی ؛ خپښی کیږی لحکه چه پیسی که هرڅو مره ډیری وی نشی کولی چه بوپښتون دانتقام څخه واړ وی .

فرض کړو که یوه سړی پور واخیست او دهماغه مړی په مقابل کښی چه دجانب مقابل لخنی ئی ورباندی خونبها اخیستی ده څوك وواژه نو په دی وخت کښی به یوه خونبها او یوڅه نور زیات مبلغ چه جرگه به ئی تعینوی . ور کوی لحکه چه دپښتنو په قوانینو کښی داثابته ده چه هر کله څوك اراده لری چه خپل دښمن ووژنی نوجرگه ورسره نه کوی او کوم وخت چه جرگه پکښی وشی نوبیاد سړی ووژ لو حق نه لری او نه به ددې کار اقدام کوی او بیا لا که خپښی په منځکښی راشی نود ا خو هغه خبره ده چه مخ کښی ذکر شوه . او فرضاً که قتل مکرر شی نوپه دې وخت کښی بله جرگه نه کیږی او مسئله باید په قتل او قتال فیصله شی .

که وروسته له وژلو مقتول بی حجابه شی یائی کوم اندام پر بکړی شی نو باید چه دوچند خونبها واخیستله شی ، داماده دښځی او نر په حق کښی څه فرق نه لری . هو د پښتنو قوانین په هیڅ لحای کښی دښځی او نر فرق نه کوی ، دلته فقط یو قانون وجود لری چه ددغی مسئلی تثبیت کوی ، هغه دادی (تیکری او پکړی خاری دی) صغیر او کبیر هم دقتل په مسئله کښی فرق نه لری ؛ البته څه چه دی دومره دی چه دقام دسپین زیری مخوریز ، لحوانمرد ، شجاع او تور یا لی پور دمعمولی اشخاصو څخه زیات دی ، په دی صورت کښی د جرگی اعضا دمقتول د شخصیت په اندازه پور اضافه تاکی که دوژلو نه وروسته قاتل دمقتول توپك یابله وسله دلحان سره یوسی نود جرگی په وخت کښی به علاوه دهغه شی داستر داد څخه څه مبلغ د «شرم» په عنوان ور کوی .

فرض کړو که په جنګ کښې دجانبینو څخه یو نفر یا څو کسه شامل شي اوله یوی خوا څخه یونفریاڅو کسه پرهار جلی‌شي ' نو مقتول پور لری ' ولی پرهار پورته لری . اګر که مقتول یوتن او زخمیان څو تنه وی ' هو که زخمی دهمدغه زخم په اثر کښې مړ شي ' نو بیا خونبها لری او که له یوی خوا هم مقتول او هم زخمی وی ' نو طبعاً دوګډه پور لری .

(دزخم پور به په آینده مخو کښې مفصلاً ذکر شي)

باید وویل شي چه که کوم مهم عضو زخمی کړی شي لکه ستر ګی ' پوزه ' نور ' وی او که «سپین» دپرهار په ماده کښې نه راځی ' او خپل مخصوص پور لری چه وروسته به ئی ذکر کړو .

داندامونو پر پکړه او پرهار

الف ـ سپین :

ستر ګی : یوه ستر ګه ' نیم خون ' دواړه ستر ګی پوره خون

پزه : نیم خون

غوږ : یوغوږ نیم‌خون . دواړه غوږونه‌پوره خون

ژبه : پوره خون .

شونډی : یوه اودواړه یو خون

غاښونه : دیوښکاره پور تقریباً دیوخون لسمه برخه ده ؛ شپاړس غاښونه دسپین به‌حد کښې دی اوهریوئی هماغه پورته پور لری . چه‌دشمار به‌قرار حساب کیږی

پښه که له بنده قطعه شي ' نیم خون پور لری . دوه پښې یو خون پور لري .

لاسونه : که یولاس له‌بنده پر پکړی‌شي نیم‌خون او که دواړه له‌بنده قطعه شي پوره خون حسابیږی .

ګوتی : دلاس اوپښو او کېن اوښې په پور کښې فرق لری . دلاس ګوتې ' که دلاس څلور وړی ګوتی پر پکړی شي یوخون اودوه لاسه دوه خونه پور لری . دڅنګل به‌حد کښې یا هره حصه چه دبند نه پورته وی یویو پوره خون پور لری . په‌دې صورت کښې هم لاس اوپښې فرق نه‌لری . که دغه اندامونه په پورته ترتیب سره پر پکړی شي یعنی

دواړه لاسه یادواړه پښې بېلې بېلې پرېکړې شي ، نو څلور خونه کېږي او که ددغه اعضاؤ دپرېکړې له کبله مړشو ، نو یوخون کېږي ، که اعضاء مخکښې له مرګه خراب یاناقص شي نو پورئي زیاتېږي او که وروسته له مرګه وي ، نوداهم معلوم پور لري. که دمقتول آلت وروسته له مرګه پرېکړې شي نو یوخون زیاتېږي ؛ یعنې دقتل له خونبها څخه علاوه د پرېکړې خونبها به هم ورکوي که له مرګه مخکښې دتناسل آله پرېکړې شي نودوه خونه پور لري . پس له هغه که مړهم کړې شي نودري خونه پورئي کېږي ، په پورته تشریحاتو کښې ځینې داسې خبرې هم شته چه سوال او پوښتنې ته په کښې ضرورت حس کېږي مثلاً داچه څلور واړه وړې ګوتې دیوازې غټې ګوتې سره په پور کښې برابرې دي . البته ددې پوښتنه جواب هم څه دومره پټ او مخفي نه دي ، ښکاره خبره ده چه بې غټې ګوتې نه نوري پاتې څلور وړې ګوتې هیڅ کار نه شي کولی .

دابله چه دآلت پور زیات دي یادسپینو اعضاؤ پور زیات ایښو دل شوي دي فلسفه ئي داده چه شرم او ننګ او هروخت لیدل ئي په یو نفر پښتون باندې ډېر ګران تمامېږي ، پرهار اکثره دنوع په لحاظ سره فرق کوي چه تفصیل ئي دادي :

پیش قوزه : که څوك په پیش قوزه سره په چا حمله وکړي که زخم زیات وي او که لږ له کالونه تېرشي اویا په هغه ولګېږي دبدن د(تور) په حصه کښې وي او یا په (سپین) کښې ، هماغه یومعلوم پور لري . لیکن دموسی دنرخ په لحاظ په تور کښې پور کم او په سپین کښې زیات دي ، او که پرهاروشي او په تور کښې وي علیحده پور لري او که پرهارونه شي نو ځانته بل رقم .

چاړه : که څوك چاړه په لاس په چا حمله وکړي او هغه هم په مقابل کښې ور ځغلي اودمخې خوانه زخمي شي نودایو راز ټاکلي پورلري ، ځکه چه پرهار جلي بې غیرتي نه ده کړي او که وتښتي یادشا له خوا زخمي شي نه په دي لحاظ چه ده بې غیرتي کړېده؛ نو داول قسم نه لږ پور ټاکل کېږي . او که زخم دتور په برخه کښې وي ، نو پورئي دپورته شخص غوندي دي . داهم دویلوده چه دزخم زیات والي او کموالي هم په پور باندې اثر اچوي . مثلاً که زخم څلور ګوتې یا په قانوني اصطلاح سره یوه چانپه وي یو قسم پور لري او که ددې نه کم وي نود ګوتو په حساب ئي پور اخیستل کېږي .

همدارنگه که زیات وی نوهم دگونو په حساب ئی پور زیاتیږی ، تر هری در جی چه ور سپږی ! معیار ئی هماغه څلور گونی دی .

دبره : که سړی زخمی کړی اوسپین کښی وی نو یو ئی د ذکر شوی پور په نیمائی دی او که زخم ونه کړی نودهغی نههم کم دی ؛ لیکن که دبدن په توره برخه کښی واگی او زخم هم نه وی نوعموماً ئی پور بویسه اودڅو کسو ننواتی ده .

داخبره باید مخکښی به خیال کښی وساتل شی چه په هرشی کښی چه پور لا زمیږی هلته ننواتی هم ضروری ده ، دننواتی په باب کښی پر ته دمخکینی تفصیل څخه داخبره هم دذکر وړده چه دننواتی جرگه چه چیرته ځی دځانه سره یو پسه هم وړی ، که مسئله دقتل یا زیات زخم یا داسی بل مهم څیز بوری متعلقه وی نو هلته دوه کسه سپین سرې ښځی دقرآن شریف سره هم لزوم لری چه لاړې شی . او که مسئله جزئی وی نو یو کس ملا (سپین پټکی) دیوه پسه سره کفایت کوی .

توپك: که کوم سړی په توپك زخمی شی په تور او سپین اودبدن په هره برخه کښی چه وی چه هدمات نه شی ، نویومعین مقدار پور مقابل جانب ته ور کول کیږی او که هدو کی مات شی نودخون په نیمائی پور لری .

تبر : کټمټ دچړی غوندی دی .

لرگی : که څوك یوسړی په لرگی وهی په هغه صورت کښی زخم واقع نه شی ، بایدیومقدار پور واخیستل شی یاداچه مضروب به ضارب دبدن په هماغه برخه چه دی ئی وهلی دی یولرگی وهی اوس باید مخکښې تردی چه د زخم مبحث تمامـوو که په همدی ځای کښې دوروځو ، زیرو او بریتو بحث و کړو نومناسب به وی .

وریځی : که چیری زخمی شی یومعین مقدار پور لری ،

بریتونه : که په جنگ کښې واپستل شی او دا کار سهواً شوی وی ؛ نوددی پور دپورته پورنه زیات نی او که په قصدا کارشوی وی نو پورئی دپورته پور پنځه هغومره دی ،

زیره : له بریتونو سره یو برابر او مساوی ده .

دښځو په باب

که دحقیقت پهستر ګو کتل شي نو یوه زیاته برخه جنګونه اومخالفتونه چه دپښتنو په منځ کښې پېښېږي دهغې اساس دښځو مسائل دی. پښتانه چه ښځې خپل لوی ناموس ګڼي دهغو په باب جزئي خبره هم تېرولی نه شي ' نو که ددی ناموس په باب لږ شانی څه دپېغور موقعه پېښېږي ' دوی دحیات څخه پری تېر ېږي ' نو ځکه د جرمیاتو یوه لویه برخه په دغه بحث پوری اړه لري ' اودلته د کر کېږي نوددی دپاره چه زمونږ کار آسان شي دا مبحث په دری برخو وېشو :

۱ـ مېړونه .

۲ـ ګونډه .

۳ـ پېغله :

مېړونه : که څوك مېړونه ښځه وتښتوی نو باید چه دیوخون اوه هغومره پور تادیه کاندی ' اوداهم به هغه صورت کښې دی چه مړنه کړی شي ' نو ګویا دی خپله زندګی په بیه اخلی ' که یوه ښځه اویوسړی سره بدنام شي اودجرم په وخت کښې ګیر شي نودپښتنودقانون له رویه وژل کېږی اوپور هم نه لری او که وتښتېده نوبیادوه صورته لری.

الف : که بېلګه (مثلا : پکړی ' څادر ' اوبل کوم شی) بی پاته ؤ په دی صورت کښې چه هرچېرته په لاس راشي ښکاره وژل کېږی .

ب : که بېلګه ورنه پاته نه وه نوبیائی څوك دښکاره وژلو حق نه لری هو په هغه صورت کښې چه بېلګه ئی هم پاته وی او وتښتی اودجانی خپل خپلوان ده ته پنائی ور کړی اومدافعی ته ئی ملا وتړی نو بیا دتور په عوض کښې دسپین وژل هم د پښتنوقانون منی ' ځکه چه په دغه مسئله کښې پښتانه دمجرم پناه ور کوونکی او مرستی عیناً مجرم ګڼی .

که دناموس په مسئله کښې دښځی اوسړی څخه یووژل شي ' نو په کار کښې دننه دننه به بل هم وژل کېږی . او که قاتل دبل په مرګ پهدغه موده کښې بریالی نه شی نو باید چه دمقتول ورثی ته یوخون پور ور کړی . لیکن دومره خبره شته

چه که ښځه ووژله شوه اوسړی پاته شو نو بیا موده دیو کال په ځای دوه کاله ده ځکه چه دسړی گیر کول دښځی په نسبت مشکل دی .

که تور دسپین (خپل خپلوان دوست یا بیگانه) کاله ته پناه یوسی . نو ددوه کالو پوری ئی ساتلی شی . وروسته له دې ئی باید له کوره وشړی . په دی ځای کښې هم دوه صور ته دی :

الف : یوه داچه دپناه ور کوونکی کور دمدعی (تور) مدنظر وی نو په دی صورت کښې هغه پورته قانون دی .

ب : بله داچه دپناه ور کوونکی کور دمدعی (تور) مدنظر نه وی اولیری وی په دی صورت کښی به ټول قوم راټولیږی اوددستی نه شړلو په صورت کښې به دده کورسیږی او مال به ئی تالا کوی .

که ښځه دچا په کور ور ننووزی اوسړی ئی وساتی عیناً هماغسی تلقی کیږی لکه تښتولی ئی چه وی .

که سړی ښځی ته لاس واچوی او ښځه څه نه وائی نو معلومیږی چه جانبین راضی دی نو په دی صورت کښی دواړه وژل کیږی او که ښځی داد وفریاد کړی وی او استمداد ئی غوښتی وی ، نو په دی صورت یادسړی غوږ پری کوی او یا ئی بی حجابه کوی او که بی حجابی په داسی شان وشی چه له هغی نه مړ شی نو قاتل دنیم خون مجرائی اخلی او باقی دیو خون پور ور کوی ، او که دغوږ یا پزی دپرې کولو په اثر کښی جانی مړشی نو بیا هم هماغه حساب دی چه دیو خون پور به ور کوی ، چنغاله دمیړوښی حکم لری : که څوك خپله چنغاله د « کورښندی » په رقم دپلار له کوره یوسی نوولور (رونړی) به خسر خپلانو ته ور کوی او که په رضائی یوسی نوولور او ننواتی لاز میږی .

که خسر ځوم ته د کور دننوتلو یا په کاله کښی داوسیدلو اجره ور کړی وی او په دی صورت کښې دغه واقعات پیښ شی نو څه ئی چه تری اخیستی وی هماغه ئی شوه او دنور څه اخیستلو حق نه لری ، تردی چه که ولور هم پاته وی نو پاته شو .

۲ ـ کونډه : کونډه دملی قوانینو له رویه اول دلیوره او بیا دمیړه دتره دزوی حق دی او که داسی څوك په اقرباؤ کښې نه وی ، نو ټول قوم دښځی په ننگ کښې شریك حسابیږی پښتانه وائی « کونډه دقام ده » نو په دی حساب سره بل قوم د چا د کونډی کولو حق

نه لری که بیګانه دچا د کونډی کولو اقدام و کړی او په نکاح ئی کړی نو دیوې مېړوښی ښځی قدر پور پری اوړی .

۳ - پېغله : که څوك دپېغلی پوړنی ته لاس واچوی او دسره څخه ئی تری لری کړی او یا دښځی د کولو غوندی ددعوی په صورت ډزی و کړی نو دغه نجلۍ دې سړی ته نه ور کول کېږی ځکه که دادروازه بېرته پرېښوده شی . نو آسانه خبره ده ، هرسړی به په هره پېغله چه خوښه ئی وی دعوی کوی . همدارنګه که سړی په کومه ښځه غږو کړی ، نو هم د کولو څخه ئی محرومه دی . البته دا خبره هغه وخت سختېږی چه د نجلۍ مور ، پلار او ورور راضی نه وی او مخکښې ئی ور سره سلانه وی . که څوك پېغله وتښتوی او په زوره ئی خپل کورته بوزی یو خون به دځان دحفاظت او نیم خون به دشرم په عنوان پور ور کوی ، که نجلۍ په خپله په تګ راضی شوی وی نو جرګه پکښې جوړېږی او دوچند ولور اخیستل کېږی (ولور دپښتنو دټولو اقوامو او قبائلو په منځګښی دهغوی درواج په مناسبت یو معلوم مقدار لری) لېکن دواده نه وروسته دا نجلۍ حق نه لری چه دپلار کاله ته تګ او راتګ و کړی .

که ښځه په کوم سړی غږ و کړی او په کاله ئی ور ننوزی نو سړی باید دپښتنو دقانون له رویه دا ښځه یوزل له کوره وشړی (په ځینی پښتنو کښی داد شړلو رواج نه شته) او پلار ګنۍ ئی پری خبر کړی که بل وار بیا راشی نو دا وار به ئی هم شړی او دوه نفره شاهدان به په دی خبره نیسی چه ښځه په خپل خواهش بی دسړی دتحریك نه راغلی ده که ښځه دریم وار بیاراشی دازل به سړی څلور کسه شاهدان نیسی او ښځه به شړی که څلورم وار بیاراغله وداوار دنجلۍ مورو پلار هیڅ حق نه لری او ښځه وړیا دهمدغی سړی شوه . کوم وخت چه ښځه دهغه سړی له کوره چه پری غږ ئی کړی وی وشړل شی ، دپلار په اختیار کښی ده چه وژنی ئی او که بل سړی ته ئی ور کوی ، لېکن عموماً وژل کېږی . دادښځی مکرر تګ یوه قانونی ماده ده چه احتیاطاً منل شوی ده لېکن عملاً ښځی ته دا فرصت په لاس نه ورځی که چېری مېلمه و کاله پېغلو ښځو ته (چه عموماً په پښتنو کښې دارواج دی چه ستر نه کوی او د مېلمه په لاس او به اچوی او دوډۍ ورته ږدی) څه اشاره و کړی یا ئی لمس کاندی نو یوه نجلۍ به په دی جرم کښی پور ور کوی .

کوم وخت چه ښځه دمېړه کورته لاړه شي ، او ناموس ئي دمېړه پوري تعلق لري په ځيني مسائلو کښې پلار دمداخلي حق لري . مثلاً که مېړه خپله ښځه داسي و و هي چه هډو کي ئي مات شي يائي کوم اندام تلف شي يائي ووژني نو دبې گناهۍ په صورت کښې دپور حق لري . که په پور نه راضي کېدو نو کولي شي چه عيناً قصاص واخلي (ناعيناً قصاص په ټولو مسائلو کښې تعلق لري) .

هو ، پرته ددغه پورته ځايو څخه پلار حق نه لري چه دښځي او څښتن په گذاره کښې مداخله وکړي گه کومه ښځه دپلار په کاله کښې دچنغول له خوا گېډه وکړي نو د کامل وور نه علاوه يوه سپيني پايڅي ښځه به هم ورکوي .

کورسېزل

که څوك دچا کوټه وسېږي بايده دي چه دسوي کور او مال تاوان ور کړي او زياتي به لايو مبلغ د کوټي دشرم په عنوان هم ور کوي ، دروازه ماتول ، يادېوال سوري کول هم يو معين مقدار پور لري که څوك دچا کېږدي وسوزوي نو په دي لحاظ چه دا کار په اسانۍ سره اجرا کېږي نو دجلو گېري دپاره ئي دمال او کېږدي دتاوان نه علاوه څه مبلغ اويوه ننواتي هم په جنايت کار ايښي ده .

که دڅپرې نه غلاوشي ياوسېزل شي نو دمال تاوان اويو مبلغ پوراو ننواتي لازمېږي داددي له پاره چه دداسي کارو څخه چه په اسانۍ اجرا کېدي شي او عام ضرر لري پوره جلو گيري وشي او امنيت قايم کړي شي .

که څوك دچا فصل په زوره . عمداً ، وخوري نو څلور هغو مره تاوان به ور کوي که څوك دچا سپي سهواً ووژني ، يو پسه او څه معين مبلغ به ئي خاوند ته ور کوي ، او که سپي په قصد وژل شوي وي يو خون به ور کوي يا به سړي په سپي قصاص کېږي . که څوك دچا ازه ، مېږه ياغوا ټه کړي نو ديوه په ځاي به نهه ور کوي ، يعني پور ئي نهه هغو مره کېږي که څوك دچا چرگ په ټوپك وولي نهه هغو مره ، که پټ ئي کړي هم نهه هغو مره که په تيږه ئي مړ کړي دوه هغو مره تاوان به ور کوي .

که څوك دچا دغوالکي قصداً پرېکړي نو يو معين مقدار پور لري ، دخره دلکي په پرېکولو دغوا دلکي نه ډېر تاوان ايښودل شوي دي .

که څوك دبل دنوبت او به په غلابا ښکاره په خپل فصل ولګوی ، که جنګ ونه شی یو معین مبلغ پور لری او که جنګ وشی اوزخم ونه شی نوهم یو معین مقدار پور لری که زخم واقع شی نودزخم پور لازمیږی که زخم داوبو دغاصب له خواوی ، نو یوازی تنواتی به کیږی دزخم دپور په عوض کښی به پنځه اتیا روپۍ داوبو حاوند ته ورکول کیږی .

عمومی مقررات دننواتی ، جرګی

مرکی اومرکه کوونکو دحقوقواودمیلمستیا په باب

دخون اومیړونی ښځی ننواتی څلور ښځی اوڅلور قرآنه اویوپسه دی ، یو پسه ٥٤ روپۍ برابرې دی ، مرکه کوونکی څلور پنځوس روپۍ حق لری ، داروپۍ په پور کښی مجرائی خوری ، پسه په هرصورت دمرکی سره شته ، دننواتي دپسه حلالول حرام دی ځکه چه پښتانه ئی امید ګنی اوله دغه کبله ئی دپښتنولۍ اومیړانی د شئونو څخه مخالفه ګنی په نورومسائلو کښی ښځی نه ځی اوقرآن شریف هم نه ورل کیږی تش دخو کسو تسګ اودیوه پسه ورل کفایت کوی که څوك دمرکی دمخ کولو دپاره (٥٤) روپۍ بیرته وکړی نو ښه که نه وی څوك پری حق نه لری مګر عموماً داروپۍ بیرته ورکول کیږی.

که جرګه جوړه شی او څوك دجرګی تصویب و نه منی او یائی ماته کړی نو یوه ننواتی به کوی او ٥٨ روپۍ به جرګی ته ناغه ورکوی .

که په یوه جرګه کښی هرڅومره سړی شامل وی ، حق الزحمه ئی چه پنځوس روپۍ دی په پور اخیستونکی کیږی ، ددی نه زیات حق نه لری ، دروبی د جرګی داغړیو په منځکښی وپشل کیږی یاور باندې په ګډه پسه حلالوی .

که څوك دخپل مړی په مقابل کښی دچاسره مرکه اوروغه وکړی اودقاتل د مرګ پسی ګرځی او یه دې وخت کښی قاتل دمقتول د کورنۍ د کوم مړی د جنازی د کټ ښه په اوږه کیږ دی یا مخکښی دښخولو څخه د مړی په قبر کښی څملی نو دقصاص څخه خلاصیږی . لیکن دخون پور ، باید چه ورکړی ، که څوك په ګډه یوسړی ووژنی په نولو یو پور کیږی مګر سور لاسی به پنځه سوه روپۍ زیاتې ورکوی .

که په مر که کښې څوك کوم سپین زېری بی ابه کړی نو ۱۸۰ روپۍ به پور ور کوی او که کښجاورته و کړی ۸۰ روپۍ پور لری . که څوك په سپین زېری گذار و کړی (۹۰) روپۍ پور لری .

بدرگه : که څوك د بدرگی اصول چه مخکښې ذکر شوی دی مات کړی په اوله دفعه کښې به یو پسه او ۳۰۰ روپۍ بدرگه والاته ور کوی ' په دویمه او دریمه دفعه کښې هم دغسی ناغه لری . زیات له دې نه څوك په څلورم زل څه حق نه لری .

د تویك دز چه په چا و کړی شی او ټپی نه شی هم یو معین پور لری مگر که چا په چادزخم یا قصاص پور درلود ' بی له لگېدلو او پور اخیستو هیڅ نشته ' البته چه خپل پور واخلی او پس له همه څه واقعه پېښه شی نو هغه د حساب لاندی راځی .

که څوك په جنگ کښې د چا دلاسه تویك واخلی یا چاره او دا سی بل څیز د چا دلاسه تاو کړی نو علاوه د رسلی د مستر د کولو څخه لکه چه مخکښې مو ویلی دی ' ۱۱۰ روپۍ یوه ننواتی دپسه سره پری لازمېږی '

که څوك د چا په کور کښې مېلمه وی ' او د کور والا د ښمن د مېلمه اسباب یو سی نو د وچند تاوان به ور کوی او که مال ئی ور کړ نو د مال قیمت او (۸۵) روپی به د کاله د شرم په عنوان د کور خاوند ته ور کوی . که څوك د چا به مېلمه د تویك د زو کړی که قصداً ئی کړی وی او زخم واقع شی د وچند پور به ور کوی او که سهواً وی (۱۵۰) روپۍ پور لری او که مړشی د وچند خون او څه مبلغ د کاله شرم لازمېږی . که په غلطی کښې د کاله د خاوند په عوض چه د خون پور ورکړی وی مېلمه ولگېږی او مړشی نو د کاله خاوند له بوره خلاصېږی د مېلمه خون به هم دی ور کوی او (۵۰۰) روپۍ به د مقتول ورثی ته ور کوی . که څوك د چا سره د مېلمستیا وعده و کړی چه د شپی د زخم او بیا ورنشی نو ۱۵۰ روپۍ ناغه او یوه ننواتی لازمېږی . که څوك یو سړی مېلمه کړی او بیا د ښمن د پیسو اخیستلو په سبب په دوستۍ کښې ئې مړ کړی ' د مرگ حق هم پری ثابتېږی او د یو خون پور هم پری کېږی .

(د احمد زو د عیسی خیلو جرگې لمړون دلته بای ته ور سېده)

کاظم خان شیدا

(٥)

مرده دل ئې دجمال تماشاخه کا ؟ دمجنون تصویر ادا د لیلا خه کا ؟
چه آشنا لکه غزال دهیچا نه وی په هغو ستر گواثر دوفا خه کا ؟
د سرور اسباب بکار د مهجور نشه ددستار غنچه مقدم دصبا خه کا ؟
چه پاره ئی گریبان لکه سحروی تستر دحال داهسی رسوا خه کا ؟
هر گز نه لری بهره له دست و پایه دسمك عالم به رنگ دحنا خه کا ؟
سپك پهشان کړې دحباب تنگ ظرفیه (١) وتمکین نهدې جوشش ددریا خه کا ؟
د وفا طمع ئې مه کړه سکندره ورته و گوره دوران پهداراخه کا ؟
په ستم ئې دتاختن تمام خراب کړ دمحمل ناقه ئې نور پهصحراخه کا ؟

که پرواز لکه شهباز و کا هاله شی
گیرائی دهغه دام په «شیدا» خه کا ؟

که ساقی تلخه باده دریا شور کا دفلك پهجام بهمست کلهمیخور کا
آراسته وی تل محفل د خنده روبو زمانه به د گل جام خه رنگ نسکور کا
چه لری لکه شانه هزار چوبونه (٢) بی افسونه به نیول دتور منگور کا
دل تنگی کړم لکه گل په خنداور که که می باددصبا بل په خونه اور کا
چهپهسر ئې سبز آسمان زری دستار زدی عاقبت ئې لکه شمع بیا سر تور کا
لکه گل کړې گران بارتر دامنیء باددی خه لکه غبار په کتف سور کا

چه امید په خپل صورت دوفا نشته
«شیدا» خوك دلخان آشنا ، یائې خمسور کا

---

(١) دحباب تنگ نظریء (اس)
(٢) چه پلاس کی ئی تل چوب لکه شانه وی (پ)
چه په طور دشانه هزار زبان وی (ح)

داصحرا په نقش پا کړ گل زمین چا — سر بلند کړ له خاقانه هر گلچین چا
په گلدام ئې مگر بند نالان بلبل دی — یو لباس په دا بهار نه کړ رنگین چا
چه د کوه په شان دې تیغ په غاړه کیښو — بی له مانه به وو ړد از خم سنگین چا
د بېکس په ماتم کله چا نعری کړی — څوك په مرگ د شمع ولیده غمگین چا
چه و تیغ ته می گردن زیږدی له دوشه — بی له شمع کړه معمول ځما آئین چا
څوك په زخم پاهه زدی د بېکسانو — دیتیم اوښی کړی وچی په آستین چا(۱)
دغنچی په شان به گل شی سر تر پایه — که مدام د گل بهار کړ دلنشین چا

جه په زعم د «شیدا» لکه نمر گل شه
آوېخته کړ دسرو تیك په سپین جبین چا

نوی خط دې په چمن درخسار زېب کا — که بورا په تازه گل د بهار زېب کا
د عشرت په عالم نن د مهتاب شپه ده — چه کا کل دې په سپین مخ تار په تار زېب کا
سر کشی دجهانسوز سری لمبې وینم — دمقیش طره که ستا په دستار زېب کا
چه ددې گرم نگاه په تیغ شهید وی — دلاله غوندی می داغ په پرهار زېب کا
دبهار په دود چکن ئې د دامن شو — چه په سیر دې هر دشت و کهسار زېب کا
مگر تادی آرایش د جمال کړی — دتمام ښهر نن درو دېوار زېب کا

«شیدا» هار دشهوار دردی سفته شوی
که په ژبه د تحسین دې گفتار زېب کا؟

---

(۱) حمید با با هم وایی : دهغه استونی لاس ید بیضا دی
چه پری وچی کاندی اوښی دیتیم

په دریاب به څه رنګ ترشی کام لحما
چه نسکور لکه حباب دی جام لحما

دنګین عالم خبر ورلحنی نه دی
هسی ورك شه ستا په غم کښی نام لحما

دلاغر صید له شر مه هسی آب شه
چه سر سبزه کړه دانه ګلدام لحما

دذري په شان مي تاب د آفتاب سوزی
هیڅ سبب د راحت نه شه بام لحما

صبح وشام مي کړه هم رنګ سیهٔ روزی
لحکه نه لری هیڅ صبح وشام لحما

دسیماب په شان ئي نه مومم بی مرګه
د حیات له لاسه ورك آرام لحما

ستاد مینی رازمی هسی پوشیده کړ
چه په تانه شه خبر سلام لحما

په ګلشن وی «شیدا» بیا پر تود صبح
که په سپین لباس کاز ب ګلفام لحما

عاشقی د دوه مینو صورت یو کا
مرګ دشمع وشعلي محبت یو کا

بر پښوی قوی بازو چه قامت خم شی
د کمان په شان خپل ضعف وقوت یو کا

له خاطره ئي امساك د بوسی نه لحی
که حاتم سره علو د همت یو کا

په صفت ئي ه آبر و بلنده طبع
دمضمون دقت دماه نزا کت یو کا

نتیجه ئي دصحبت خس وخاشاك وی
له ساحل سره چه موج صحبت یو کا

که روزی شی استغنا دافتاده وو
له آسمان سره به خاوری رفعت یو کا

هغه دم چه ار تکاب په ستم و کا
زمانه د «شیدا» رنج وراحت یو کا

ستا ګلګون به ولی عزم دمیدان کا
په دیده مي د ګردش لکه مژګان کا

که عصا لکه نرګس دپیری واخلی
عاشقان به کله بند وزی چشمان کا

پس له مرګه وی ناله دسینه چا کو
بی نفسه دجرس غوندی فغان کا

دنمر اورئي په‌سر بل په‌فرياد غرو نه داسنگدل مگر ستم په‌درست جهان کا
واصلاح نه‌ئي نمك گرزی په‌خيال کښې هر خاطر چه د کباب غوندی بريان کا
تير ماری دهغو زلفو لوی آفت دی چه حلقه ئي وعالم ته‌په کمان کا
چه نفس ځما دآه سر کشی و کا فلك لاندی خپله‌شمع تر دامان کا(۱)
دحباب په‌شان ئي زړه نمايان نه شی چه‌سينه له‌درده‌چا که بېدلان کا(۲)
و صحبت وته ضرور مناسبت دی سنبل ځکه په‌سرو گلو پريشان کا
هر مضمون ئی مبتذل په‌شان دنی دی گويائی چه‌دمعنی تهی دستان کا(۳)

تل په‌خپله شيشه مست لکه‌غنچه يم
څه به‌ياد په‌ما «شيدا» پير مغان کا

په آفتاب کښې سيرولی جانانه کا دپری سايه و گړی دېوانه کا
شب داج به‌ئي مهتاب کاستا د زلفو دآفتاب پنجه که‌ځان دعاج شانه کا
په ښايست بوله بنا دعا شقيه که وا له دفلك شمع پروانه کا
وازه خوله ئي لکه درشی خالی پاتی چه حاصل ئي بې نصيب آب ودانه کا
په کاشان دډېر اسباب توکل نشته دمخمل عالم ئي خواب په‌افسانه کا
چه تعمير ئي دبنا په آسيا سنگ وی دم په‌دم به غم دآب صاحب خانه کا

«شيدا» کله‌شه آسمان آشنا دخلقو
څوك به خپله دا سبزهٔ بېگانه کا

تار په تار چه په‌سپين مخ مشکين گېسو کا راته ياد دچار چمن گل شب بو کا
آراسته جمال ئي درست دچين تصوير شی توری زلفي چه‌قلم دمشکين مو کا

---

(۱) ( ) دادوه بيتونه د(پ) له‌نسخی څخه رانقل شول د(اس) په‌نسخه کی نشته .
(۳)دا بيت د(ح)له‌نسخی څخه را نقل شو .

زه بلبل دهغه باغ یم باورو کړه چه نرگس ئې هم چشمی دشوخ آهو کا
عندلیب گنه معذور په بدمستۍ کښې دغنچې شیشه کارونه د سبو کا
تسلی ئې د نمك په سوز ونشوه د کباب زخم هموزداور آرزو کا
لکه گل به دا بهار کښې رسوا گرزم دریده گریوان که څوك لحمار فو کا
نه شی هیڅ د برق لمبه زیاته یا کمه که باران په شیبه اوری بادئې بو کا
که په شان د آئینې ئې لذت و اخلی
سر به کله «شیدا» پورته له زانو کا

هر ناظر چه نندار ه ستادر خسار کا ستاصورت به زړه کښې لحای آئینه وار کا
یودم پورته کړه چشمان د نازله خوا به ستادستر گو په شان خوب کله بیمار کا
مر غلری ئې لیده دسره پیز واند شی که ئې لب له ډیره نازه کړ گفتار کا
آزاد ه لکه په تنها ئې کښې په فقدان دمشتری گرم بازار کا
دصورت په شان غافل شی له آفتا به ناگهان چه سر په سیوری د دیوار کا
هیڅ غنچه د گلونه ده ساده دله اعتماد به په بقا دنو بهار کا
و تحریق نه ئې حاجت دخاشاك نه وی چه سوخته ئې لکه شمع خپل زنار کا
تل ئې بیم کوې «شیدا» له دورنگی
خپل لیمه که دعالم لیل و نهار کا

څوك به څه په چا احسان لکه دریاب کا په مایه دسیند خلاف دسیند گرداب کا
راشه و گوره کمال دستاری ئې په ضیا د آفتاب ستر د شهاب کا

نمایان په خاص وعام لـکه ذره شی چه نظر په کم ولوی لـکه آفتاب کا
دحباب په شان تمام له شرمه آب شی که ئې لری چېری باد دمخ نقاب کا
نادانی گـنـه غفلت در هـر وانو لکه طفل دزانـگو په تله کښی خواب کا
دستـگیری دلاهوخس کړه ترساحله که آسمان دی موج آسا په آب و تاب کا

زمانه ئې «شیدا» بل کـا اور په خونه
چه ممتاز لـکه سحر په فتح باب کا

په سپین مخ ئې توری زلفی پېچ و تاب کـا که هاله جلوه په نور کښی دمهتاب کا
په چمن چه دښایست طبل نواز شی د گـلو نور نگ پرواز لکه سرخاب کا
که په داقامت ورود په بستان و کړی فواری غوندی به سرو خجلت آب کا
دواړه وروځی ئې موجونه شول نظر کړه چه مو دځما دستر گو په دریاب کا
که واښه د کهکشان نسی په خوله کښې د آسمان فتنه به ډېر عالم خراب کا
لکه څه په رېگ کښی و برېښی بیانه وی ستا یتنگه خوله کښی غاښ هسی رنگتاب کا(۱)

داغزل د «شیدا» زر یوسه له هنده
چه یاران ئې دوطن څه رنگ جواب کا

ب

چه رېخته کـا داځما چشمان تر آب لکه بحر شی د درست جهان بر آب
په هوا کښی دې قصور دپرواز نه کړم که می شی لـکه سحاب بال و پر آب
د آفتاب چشمه ئې مه بوله نا دانه ستا رخسار په انفعال کړ اخگر آب
په دولت شرم ساته شی راشه گوره هر گـز نه لری تری د گوهر آب

(۱) دامصرع د «ح» له نسخی څخه تصحیح شوه ، په نورو نسخو کی د «غاښ» کلمه نشته

لکه موج بی‌قرار کړم خپلو اوښو چه می لا ندی تر پهلو شه بستر آب
زمانی خسان بالاکړه ترکسانو چه‌وخس ته فرو کړی‌دی سر آب
زړه می سوړ دشعله روپه دیدن نشه که‌په شان می شه دشمع جگر آب

«شیدا» خپله چاړه وینی په‌او بو کښی
که نن واخیست دتانوی خنجر آب

حلاوت شه په‌عالم کښی بس‌عجب په شکر باندی شی لید مگس عجب
گرمی هسی‌دصحبت ولاړه له خلقه چه‌له اور سره ښکاره شی خس عجب
سر بالاکړه‌لکه گردتر گردغافله! نن فریاد کاپه دا لار جرس عجب
بلندی ئې دحباب په شان یودم ده څه آماس لری دسر ناکس عجب
له‌تیزی‌ئی هیڅ غبار دجولان نشته لکه څرخ لری کبو د فرس عجب

دسبب له پردی ووزه «شیدا» گوره
بی حایله دگر داب قفس عجب

ث

ایوان څه کوی په داسپنج عبث درد سر واړه ضایع دی ' رنج عبث
ددنیا قحبه همیش مرداره گر زی فریفته ئې شوې په ناز و غنج عبث
نه ئې خوری نې خوروی خاورې ئې قوت شی څوك چه جمع لکه مار کا گنج عبث
څو به جوړی وی دړی‌مشکین خالونه یالباس زعفرانی دخنج (۱) عبث
عاقبت یه ددې نرد بازی باخته شی چارو دو لری تل شش وپنج عبث

تگ و تاز بویه «شیدا» په لویه دښته
شاطری کوې په دا شطرنج عبث

---

(۱) فارسی کلمه ده دنفع ، سود او عیش په معنی راغلې ده (فرهنگ نندراج)

ج

په طلب کښې کړه حاصل یکران دموج — په میدان کړه دسېلاب جولان دموج
فروتن لکه صدف گوهر حاصل کړه — متاع نه لری ددر کاروان دموج
زور ور دی افتاده تر گردن کشو — تل په بندوی ددریاب گردان دموج
سرکشان دی مسخر د خاکسارانو — زمین بوس وی دساحل طوفان دموج
گوره کوم ساعت ئی نغاړی (۱) توری خاوری — داوبو په تخت روان شاهان دموج
تکلیف مه کوه دکارو نارساته — په هدف شه دآب کج پیکان دموج
مضرت دشکسته په ځان نافع شی — تل په سېل وی قایم بنیان دموج

افت وخېز ددې دنیاده «شیدا» گوره
دم په دم زېرو زبر جهان دموج

ح

خو چه راشی په حرم ددنیا صبح — ستر گی سرې کاهغه دم په ژړا صبح
سپین لباس به ئې سیاه کا ماتمونه — دغفلت به مقتضا خود آرا صبح
استهزائې په غفلت دخوا بیده وی — لادو رایه چه راځی به خندا صبح
چه ښکاره ئې ښکلی (۲) مخ دخط سبزه شی — دمیده شی په عالم کښې گویا صبح
نه تېر ېږی هر گز شپه په مهجورانو — مبتلا ده مگر ان په بلا صبح

ارمانو نه دعدم کا آفتاب نه دی
دوجود له لاسه داغ ده «شیدا» صبح

---

(۱) نغری - (پ)
(۲) کښلی - (پ)

په تېرو پنځلسو ورځو کښې دهېواد او پښتونستان مهمې پېښې

❁ دحوت له (۱) ورځې نه راپه دېخوا یوشمېر عالی رتبه ملکی اوعسکری مامورین د دلکشأ په ماڼۍ کښې داعلیحضرت معظم همایونی په حضور مشرف شوی دی .

❁ غازی والاحضرت سپه سالار صدراعظم چه دداوې په (۲۳) ورځ مشرقی ولایت خواته ئې دلنډې تفریح لپاره تشریف وړی و ، خوسره له دې هم له هغې ورځې څخه لاتراوسه پورې دهغه ولایت ددرستو چارو په وارسۍ اوسمون بوخت اومربوطه مقاماتو اومؤظفو اشخاصوته لارښوونې اولازمه اجرا آت کوی چه پوره تفصیلات ئې داصلاح په ورځ پاڼو کښې خپاره شوی دی ،

❁ ښاغلی لوستونکی به خبروی چه څومودې پخوا ښاغلی رشتین د پښتو ټولنی عمومی مدیر دمطبوعاتو ریاست له خوا مشرقی ولایت ته لېږل شوی ؤ د نورچارو په لړ کښې ئې دملی موسیقی داحیاد ترتیب کړی شوی پروگرام سره سم ئې په دی کارهم پیل کړی دی نو په دې ورځو کښې ښاغلی عطاوالله خان دراديو تخنیکی لوی مدیر هم هغه خواته ولېږل شوچه دښاغلی رشتین په مرسته دهغه ځای د موسیقۍ دډول ډول آواز نوریکار ټونه واخلی .

پښتونستان :

پدې وختو کښې ښاغلی محمد نسیم خان دغربی بنگال دڅانگی دپښتون جرگې رئیس دخپلی وینا په ترڅ کښې وویل : - (څه موده پخوا هغه وخت چه خان عبدالغفارخان دجراحۍ ترعملیاتو لاندې و ، خان پردل خان دهند دپښتون جرگې سکرتر دپاکستان صدراعظم خواجه ناظم الدین ته یولیك واستاوه او په هغه کښې ئې دانسانیت اوبشریت دلارې نه دخان عبدالغفارخان دخلاصون غوښتنه وکړه مگر د نورو ډیرو غوښتنو اومطالبو په شان دغې مشروع اوبیابیا غوښتنی ته هم دپاکستان دواکمنوله خوا کومه لازمه توجه ونشوه ښاغلی نسیم خان داهم وویل چه ددغه صلح غوښتونکی اوعاطفه لرونکی سړی حبس اودغه کار ته توجه نه کول اوغفلت البته دپاکستان دپاره خطرات لری اوهر کله چه نوموړی بین المللی شخصیت لری نودده تل بندی کېدوته به دټولې دنیا توجه را وگرځی هیله لرو چه (یونو) دغه مسئله تردقت لاندې ونیسی اودپاکستان دچارو واکمن دې خبرې ته ځیر کړی چه له تعقل اوبصیرت نه کار واخلی .

تفریظ

د آریانا ۱۱ کال

داتاریخی اوادبی مجله چه (۱۰) کاله ئې دهېواد دتاریخ اوادب په عالم کښې ښې او په زره پورې خپرونې کړی دی په دې ورځو کښې ئې (۱۱) نشراتی کال شروع شوی دی .

دکابل مجله ددې آبرومنې مجلې دنوی کال راتگ لاامله ښاغلی احمدعلی خان کهزاد ددې مجلی مؤسس اوښاغلی محمد ابراهیم خان خلیل ددې مجلې مدیر او نورو همکارانو ته تبریك وائی اوله پاك څښتن څخه ئې موفق غواړی چه دپښتنې تاریخ به عالم کښې شانداره خدمتونه وکړی .

آئینه

تر پورته عنوان لاندې یوه نوې ملی جریده راوتې ده چه مؤسس اومدیر ئې ښاغلی غلام حبیب نوابی دی اوپه هفته کښې یوځل په کابل کښې خپرېږی .

مونږ په دې چه دگران هېواد د مطبوعاتو په آسمان کښې یونوی ستوری را وځلېد خورا خوشحاله اوسترگې موروښانه شوی نوښاغلی نوابی ته ددې موفقیت تبریك وایو اوله تواناخدای (ج) څخه هیله لرو چه دکام او ملت داذهانو تنویر دپاره ښایسته اوگټورې خپرونې وکړی .

په پای کښې باید داهم ووایو چه څرنگه چه لوړو مقاماتو اوامر صادر کړی دی چه وروسته له دې څخه چه نومونه اوعناوین اېښودل کېږی ښائی چه د پښتو ټولنې په مشوره وی نوپوه نشوو ، چه ددې پورتنی عنوان په ټاکلو کښې له پښتو ټولنې سره مشوره شوی که یه ؟؟

نوی

مشتر کین قبلیږی

ددې کڼې له خپرېدو سره سم د کابل مجلې (۲۲) نشراتی کال پای ته ورسېد

د نوی کال له دوهمې ورځې څخه د (۲۳) کال په خپرونو پیل کیږی

نو دپښتو او پښتنولۍ مین که غواړی چه له دې معنوی پنګې څخه ګټه واخلی، نو خپلې درخواستې دی داشتراک له پیسو او پتې سره پوځای د پښتو ټولنې د عمومی مدیریت په نامه راولیږی

(اداره)

د کابل پوهنځی مطبعه کښې چاپ شو